# د
# مومندو غزاګانې

## لیکونکے سیال مومند

خورونکی

یونیورسټي بک ایجنسی خیبر بازار پېښور

# د مومندو غزاګانې

یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پښاور

KITABOONA BLOGSPOT.COM

# انتساب

دمومندو غازیانو او شهیدانو
چه دقومی عزت اوپت دپاره ئې
قربانۍ ورکړې دی په درلنو
لنومونو .

" سیال "

# اهداء

دخپلې کورنۍ دتوریالیو شهیدانو
پاکو ارواحوته اهدا کوم .

م ،ج " سیال " مومند
۲۴ ثور ۱۳۵۴ کال

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

دخپل غازی او شهید تره

عمر خان او شهید پلار

حاجی میاجان خان په

درنو نومونو .

——— "سیال"

——— مومند

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

# فهرست


| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۱ :- | مقدمه | ۱ |
| ۲ :- | د مومندو د غزاګانو لنډيز | ۱۲ |
| ۳ :- | د علينګار د فقير صاحب غزا ۱۹۲۷ سنه ء کال . | ۱۹ |
| ۴ :- | د سمڅوا و ډنډولنو غـزا ۱۹۳۰ سنه ء کال . | ۴۹ |
| ۵ :- | د ۱۹۳۳ سنه کال د ګنداو لمړۍ غزا | ۵۹ |
| ۶ :- | د ۱۹۳۵ سنه کال غزا . | ۸۶ |

بسم الله الرحمن الرحیم

# مقدمه

دا زما د ډېر وخت نه د زړه ارمان وو او دا مې خواهش وو چه د مومند قام په غزا ګانو څه ولیکم ، او د دې مجاهد قام د غزا ګانو او هغه جهادونو چه دد ے قام خلکو د خدای د رضا او د خپل وطن د آزادئ او خپل ملي ناموس او قومي عزت او پت د ساتنې د پاره کړې دي او د مړدو مړدونه ئې د استعمار مخه نیولې ده ، د څه ناڅه یادا شتونه راټول کړم او د راتلونکي نسل د خبرتیا د پاره دې لړ یو څه د دې قام وطني او قومي کارنامې خو ولیکم ، ما سره دا احساس د ډېر وخت نه وو چه مومند قام څومره چه تاریخي شواهد شته دي تل د خپل وطن د آزادئ او استعمار د مخ نیوې په خاطر ډېرے قربانئ ورکړې دي او ډېر ځوانان ئې خاورے شوي دي خو چا ئې هیڅ یاد هم نه دي کړي ، دا څو ځکه چه دې قوم کې د قلم خاوندان نه وو چه د دوی تاریخي مجاهدانه

کوششونه او مبارزے لیکلی وی او د پښتون قوم په تولی تاریخ کښی څه ځائے ورکړی وی.

پخوانی تاریخ به پریږدو خود مغلی شهنشاهیت د منځ ومیانه دورے نه چه څه تاریخی یاداشتونه او تذکری په لاس راتللی شی او شته دی او دهغونه دا معلومیږی چه مومندو تل د استعمار او سامراجیت سره مبارزه کړی ده او بیا د ایمل خان مومند د آزادئ د جنګونو او د خپل وطن او خاورے سره مینه او دهغی د ساتنی د پاره چه مومند قام څومره قربانئ ورکړی دی او په خیبر او کړپه او خاپښ کی د پردو زورګیرو او زوراورو لښکرو ته چه د سر په کاسه کښی وبه ورکړی دی د پښتنو تاریخ ئی لښی هیرولی دا بیله خبره ده چه نه خو ایمل خان د خپل عزم او برم او پردو ته د ماتی ورکولو په باب څه لیکلی دی او نه خو بل چا څه کړی دی یوائی خوشحال خان ختک د ایمل خان په ملګرتیا فخر او ویاړنه کړی ده او څه یاد ئی کړی دی.

لکه چه وائی:

ایمل خان او دریا خان مرګ خوئی مه وی
د خیبر دره ئی سره کړه په ځل وار

او د مغلو تاریخ ئی هم څه ضمنی یادونې کړې دی چه مونږ
ته ډیرلږ څه ترے پلاس راتلی شی . ما خوخپل وس
کړے دے اوخپل ضمیر اوخپل قام ته ځان پړنه گڼم
او د څه نه څه خولې پرے لیکلی دی او هغه د ایمل خان
په دې نه نامه یوکتاب دی چه چاپ شوے اوخپور شوے
هم دی اودا به ځما په خیال لمړنی مستقل اثر وی
چه د ایمل خان مومند په باب معلومات پکښې وی !
ارمومند قام چه څومره د پرنگیانو د شهنشاهیت
سره جنگ جگړے اوجهادونه کړې دی په هغوخوچا یوه
کرښه هم نه ده لیکلی اونه په لاس کی څه مواد شته دی
چه د کتاب لیکلو دپاره ترے استفاده وشی اوددی مهم عامل
دادی چه استعماری قوتونو ددی کارکولو ته څوک نه دی پریښې
نو دلته زه دخپل قام په حال غیر له افسوسه لوږ څه کولی شم؟!!
اوورسره خپل معذرت هم وړاندے کوم چه ضرور به زما
معلومات نیمگړې وی - خو بیا هم دادی چه له دغه امله می قلم
راخیستی دی او څه لیکم ؛ چه راتلونکی نسل ته څه پلاس ورشی
گوندی څه لږ تاریخی مواد خوخپل ننگیالی قام ته وړاندے

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

کړلی شم چه په آینده کی د پښتون قام د قومی تاریخ په تدوین کښی د مومند په لوم هم د استعمار و استثمار سره د مقابلی او مجادلی او مبارزی په حقله خوکوم باب او یا فصل خوړتر ے جوړشی؛

مومندو د سکهانو سره د سدوزو د لوی بادشاهی د ماتی په وخت کښی ډیر جنگونه کړی دی او ډیر تاریخی اثار او قصی ئی شته دی خو کله چه پرنگیان د اټک او ابا سینډ نه په ۱۸۴۹ کښی راپورے وتلی دی او خپل د مخکښی تگ (فارورډ) پالیسی ته ئی دوام ورکړی دی نو د مومند قام د جنگ او جګړو سره مخامخ شوی دی؛ او د انگریزی استعماری قوت او شهنشاهیت سره د مومندو زلمیان تل جنگیدلی دی او په تیره چه کله خو انگریزانو د پښتنو په کورکښی جوړه ول شروع کړه یعنی سر موټیمر ډیورنډ د هند د انگریزی حکومت فارن سیکرټری (خارجه) وزیر چه د ډیورنډ لین ابتدا وکړه او په امیر عبدالرحمن خان ئی په زور او جبر د غه لین په ۱۸۹۳ سنه کښی تحمیل کړو نو انگریزان د ټولو پښتنو او په تیره د مومند قام د سخت نه سخت ردِ عمل سره مخامخ شو او پښتانه

پوه شو چه استعمار اوس پښتون قوم هضم کول غواړي او په خپله هلا مبارزه ئې پيل وکړه او د مومندو غزاګانې هم له دغه وخته نه په سختۍ سره پيل شوې چه لمړنۍ مشهوره غزائې د ۱۸۹۷ سنه عيسوي کال د دسمبر د مياشتې جنګ دے چه مومند قام د مرحوم مجاهد اعظم ملا نجم الدين اخند زاده صاحب مشهور په هډے صاحب په مشرۍ کښې شوے ده ؛ او ډيرے شبقدر د مومندو لښکر تالا کړے وو او انګريزي استعماري لښکر وته ئې ماتې ور کړې وه - او انګريز مشهور سياستمدار سر ونسټن چرچل د مومندو د جنګ ۱۸۹۷ سنه په باب په خپلو يادداشتونو کښې داسې ليکلي دي وائې :- چه زه په دغه جنګ کښې په انګريزي فوځ کښې د سيکنډ لفټننټ په صفت شامل شوے وم او لمړے وارې د جنګ په حال کښې ديو مومند پښتون سترګې وليدلې ، او هغه داسې چه مونږ د خپلې وسلې په قوت د مومندو لښکر د لارے نه په شخړ او ډډه کړو او د دوي کلي او بانډے مو وسيزلې او تاوانونه مو ورته واړه ول ، خو لږ څه پس هغوي په مونږ يرغل وکړو

او دغو ولونه په مومنو راتوی شو او زمونږ د فوځ سره
لاس په لاس په جګړه بوخت شو او اخر زمونږ لښکر ئې
رامات کړو په دغه د جنګ وخت کښې ما دیو پښتون سترګې
د نښ دے نه ولیدلې چه په مومنو ئې حمله کوله - ما پرې د
تمانچې ډزې وکړلې خو هغه خندل او په مومنو پسې په اخــه
کښې وو هغه د یو ګټ نه واوړید او بیا ما و نه لید چه څه شو؟!
خو زمونږ لښکر رامات شو او په ماتې خپل لښکر او کمپ ته
راورسیدو او راغلو !! ) په دے غزا پسې په اقرب ډاګ کښې
د جناب عبد الشکور حضرت صاحب بټخاک په مشرۍ کښې په
سنه ۱۹۰۸ء کال کښې مومندو غزا کړے ده او انګریزی سامراجی
لښکرو ته ئې ډیر تاوانونه اړولي دی او بیا ورپسې جناب
ملا امیر محمد صاحب د چکنور په فقیر مشهور په سنه ۱۹۱۴
کال کښې او بیا د بابړے ملا صاحب د باجوړ چارمنګ هم په
سنه ۱۹۱۱ کال کښې او ورپسې د ترنګزو حاجی صاحب فضل الواحد
او د جناب میر سیدجان پاچا صاحب د اسلام پور په مشرۍ
هم په سنه ۱۹۱۴ کال کښې د مومندو لښکرو د انګریزانو سره
غزا ګانې کړې دی.

خودا هغه غزاګانې دي چه زما نيکونه او زما پلار او ترونه
پکښې شامل شوي دي او لکه زما تره (خان جان) چه د
اقرب ډاګ په غزا ۱۳۳۳ سنه کښې شهيد شوے هم دے؛ او
زما غازي او مجاهد پلار دوه سرپوښ ټوپکونه ولحه
هم راوړي وو خودا د اوريدو قصې او خبرے دي او زه
پخپله په دغه غزاګانو کښې شامل شوے نه يم؛ زه پخپله
لمړے وار د خپل مجاهد پلار سره د علينګار د فقير صاحب
په مشرۍ کې چه کومه غزا په ۱۹۲۷ سنه عيسوي کال کښې شوے
وه شامل شوے يم - او په هم دغه کال ما ملاتړهم کړے
وو او زلمي شوے وم؛ او غوګين ټوپک راسره وو داد غزا
جوش او ولوله او دزلميتوب نيشه عجب کيف وو - اوس
نه هغه دغزا ميدان شته او نه هغه دځوانۍ خرپ او ترپ؛
په صورت زوړ شوے يم د ۶۵ کالو په عمر کښې يم خو
پښتني همت او قومي غيرت، د استعمار سره د مبارزې د زړه
قوت او دجهاد جذبه لا ځوانه ده او سبه ژوندۍ ده.
او هم په هغه جذبه او قومي مينه ددي خبرې او ليکلو ته
اقدام کوم زه د هغه غزاګانو په باب څه ليکم چه پکښې زه پخپله

دیو غازی او مجاهد ، مبلغ او لیکوونکی په صفت شامل شوی یم ، او د استعمار استثمار او شهنشاهیت سره می جهاد و نه کړی دی او تر څو چه ژوندے یم د امبارزه به کوم .

هو! دا زمونږ د کورنۍ میراث او تاریخی رسالت دے د مومندو داسی غزا به نه وی شوی چه زمونږ د کورنۍ به یو کس پکښی د سر مورچه کی څوک نه وی شهید شوے ؛ او د استعمار چیانو په مقابل کی به د مجاهدی افتخار نه وی گټلی لکه زما تره خان جان د اقرب ډاگ په غزا سنه ۱۹۱۴ء / ۱۳۳۳ھ کښی او څما نیکه ملک محمد روز خان د سپینی څوکی محافظ د ډکی په میدان د افغانستان د استقلال د سنه ۱۹۱۹ عیسوی کال په غزا کښی او زما بل تره غازی ملک محمد عمر خان شهید د گنداو د سنه ۱۹۳۳ کال په غزا کښی چه شهیدان شوی دی او زما پلار[۳] څو واره د انگریزانو د لاسه زخمی شوے دے ؛ او آخر په سنه ۱۹۳۵ کال کښی زما پلار د څناور چینی په جنگ کښی د انگریزی لښکرو نه توپ کسا تو نه واخیستل او دگایډ پلټن ئی داسی تالا تر غه کړه چه مومند تمام پرے تل فخر او ناز کولی شی او استعماری قوتونو ته د تل د پاره د عبرت درس شو .

زه د لیدلو غزاګانو او جنګونو په باب دالږ څه لیکم - او دې کار ته ځینو محترمو او درنو دوستانو تحریک کړې یم ، چه کله نا کله به په مجلس او محفل کښې د غزاګانو او قومي جهادونو او استعمار سره د مبارزې په باب څه ویلې شو ، نو چه چا به د بندونو او جیلونو خبرې کولې او په افتخار به ئې خپلې قربانۍ یادولې نو ما به هم د استعمار سره د غزا او جنګ جګړو کومه خبره نیمه پکښې وکړله چه هغه به نړدې یوه په زړه پورې قصه ګڼړ غوندې شوه ؛ او پښتانه خو هسې هم د جنګ د خبرو او قصو نه خوند اخلې او مینه ورسره لرې ، نو زما د خبرو نه به هم څه خوندوره خبره جوړه شوه ؛ نو دوستانو به ویلې چه ته ولې دا خبرې نه لیکې ؟ خو ما سره وخت نه وو او اوس چه لږ څه وخت او فرصت په لاس راغلې نو دادې په دغه موضوع څه لیکم .

زه په دې پوهیږم چه زما دا لیکنې څه خاص تاریخي اهمیت او حیثیت به ونه لرې ځکه چه ځینې خو مفصل تاریخ او د ورځینو جنګ جګړو مسلسل تاریخ نه لرې ، او د بده مرغه هغه وخت زمونږ سره دا فکر نه وو چه دغه تاریخي واقعات

مو مفصل لیکلی وی او س چه ددی کار په اهمیت پوه شوم لو وخت تیر دے - خو بیا هم دا نیمګړی قصی د خپل ننګیالی قام حضور ته وړاندے کوم چه ګوندی راتلونکی نسل ترے څه ګټه واخیستلی شی او تل د استعمار او استثمار سره د خپلو نیکونو په شیر مبارزه او مجادله وکړی او خپل ملی تاریخی رسالت وساتلی شی .

زه د هغه ملګرو او اشخاصو د زړه له اخلاصه شکر ګذار یم چه زه ئې د دی کار د پاره تحریک کړے یم ؛ او په دغه - اشخاصو کښی ځینی ډیر لوی لوی اشخاص هم شته دی چه د پښتنو په تاریخ کښی د هغوی کردار یو خپله خاص مقام او ځائے لری ؛ خو زه ئې د ځینو عواملو له کبله نومونه نه اخلم او په زړه کښی د هغوی د مهربانو او هغه تشویق او تحریک شکریه کوم چه زه ئې د دے کار د پاره تحریک او راپارولی یم .

زه هیله کوم چه زما ننګیالی قام به زما دا لږ خدمت ګوټی د قومی خدمت په سلسله کی دا هم څه قامی خدمت ګی وګڼی او ما ته به دا افتخار راوبښی .

زما روح به هله خوښ وی چه د پښتنو منوره او عالمه

ځوانه طبقه زما دا نیمګړې کار لا پسې بشپړ کړي او پوره تاریخ پرې و لیکلی شي.

زه د لوی خدای نه د پښتنو قومي ارمانونه پوره کیدل غواړم، د زاړه استعمار په شان ئې د نوي استعماري قوتونو په مقابل کې ددوی برې او برم التجا کوم او په دغه آرزو او په دغه هیله بس کوم.

۲۴ ثور ۱۳۵۴ کال «سیال»
دلوي پښتون د جریدې مؤسس او چلونکی
«کوډا خیل مومند»
«سیالکوټ، آزاد مومند

# دمومندو دغزاگانو

# لنډيز

۱- د ۱۸۵۱ سنه ء کال غزا ده چه د مومندو لښکر د هغه انگریز متعرض فوځ سره کړے ده چه د هغه کمان «بریگیډیر سر سی کمپل» کاوه.

۲- د ۱۸۵۲ سنه ء کال غزا ده چه د مومندو خلکو د هغه انگریزي فوځ سره جنگ کړے دے چه د هغه کمان بیا هم سر سی کمپل کاوه.

۳- د ۱۸۵۳ سنه ء کال غزا ده چه انگریزي فوځ د کرنل کاټن د کمان لاندے جنگیده.

۴- د ۱۸۵۵ سنه ء کال غزا ده.

۵- د ۱۸۵۹ سنه ء کال غزا ده.

۶- د ۱۸۶۳ سنه ء کال غزا ده.

۷- د ۱۸۶۴ سنه ء کال غزا ده چه د انگریزي فوځ کمان -

«د کرنل میکه انلډ» کاوه

۸- د ۱۸۷۹ سنه ء کال غزاده چه انگریزی فوځ د کپتن گریک په مشری کښی جنګیده .

۹- د ۱۸۷۹ سنه ء کال بله غزاده چه د پرنګیانو لښکرے د جنرال ټیلر په مشری کښی جنګیدلی .

۱۰- د ۱۸۸۰ سنه ء کال غزاده چه انگریزی فوځ د جنرال ډورن په کمان کښی جنګیده .

۱۱- د ۱۸۹۷ سنه کال مشهوره غزاده چه د مومندو لښکر د دیورند لیکی په مخالفت چه په ۱۸۹۳ سنه ء کښی واقع شوے وه او بله د پرنګیانو سره جګړه د مومندو خلکو د جناب ملا نجم الدین اخندزاده صاحب د هډے د معروف شخص په مشری کښی د سپتمبر په میاشت ۱۸۹۷ ء کال کښی غزا وکړه او ډیری شبقدر قلعه او بازارئ تالا کړه - او ډیر د بری (فاتحانه) جنګ وشو. (۱)

---

(۱) دا یادداشتونه د وزیرستان د تاریخ مولف «سیفی» د ۲۹۲ او ۲۹۴ مخ نه اخیستل شوی دی. «سیال»

KITABOONA BLOGSPOT.COM

۱۲ - په همدغه سنه ۱۸۹۷ء کال بله غزا ده چه انګریزی فوځ مومندو ته لاس تړلی وو او مومند خلک بیا د هډې صاحب په مشرۍ کښې جنګیدل او په انګریزی فوځ کې انګریز مشهور سیاست دار سر ونسټن چرچل د سیکنډ لفټننټ په صفت شامل وو

۱۳ - د سنه ۱۹۰۸ء کال غزا ده چه د مومندو لښکر د جناب عبدالشکور حضرت صاحب بټخاک په مشرۍ کښې چه د هډې صاحب یو منلی مرید او ماذون وو د اقرب ډاګ په میدان د پرنګیانو سره وجنګید .

۱۴ - د سنه ۱۹۱۴ء کال غزا ده چه د مومندو لښکر د چکنور د جناب ملا امیر محمّد صاحب چه د حضرت صاحب د بټخاک او هډې صاحب مرید او ماذون وو د اقرب ډاګ په میدان وجنګید او ښه برے ئې وګاټه او مومندو پکښې ډیری ولجې وکړلې (۱)

---

(۱) په همدے جنګ کښې ملک خان جان کوډاخیل د جمادی الثانی په میاشت ۱۳۳۲ھ کال شهید شو او اکبری او دوا جان خوګاخیل هم شهیدان شوی دی .

۱۵- د ۱۹۱۴ سنه کال بله غزا ده چه د مومندو لښکر د
بابړے د ملا صاحب په مشرۍ کښې د اقرب ډاګ په
میدان وجنګیده.

۱۶- د ۱۹۱۴ سنه کال بله غزا ده چه د مومندو لښکر د جناب
میر سید جان پاچا صاحب د اسلامپور په مشرۍ کښې د اقرب
ډاګ په میدان د پس نګیانو سره وجنګیده.

۱۷- د همدغه ۱۹۱۴ سنه کال بله غزا ده چه د مومندو لښکر
د جناب فضل واحد د ترنګزو د حاجی صاحب په مشرۍ کښې
په اقرب ډاګ کښې وجنګید او لمړے وار انګریزی فوځونو
د هوائی جهازونه بمباری وکړه او غازی ملک محصل خان
کوډاخیل هم د هوائی جاز د ماشیندار د ګولۍ په اثر زخمی شو.
دا جنګ هم د اقرب ډاګ په میدان ان ترمهتی پورے وګد وو
او مومندو پکښې ښې ولچې وکړلې.

۱۸- د ۱۹۱۹ سنه کال بله غزا ده چه د افغانستان د استقلال
د جهاد په موقع د مومندو لښکر د میر سید جان پاچا
په مشرۍ په ګنداو کښې د ډکې د محاذ نه پرته بل محاذ د

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

انګریز په مقابل کی جوړ کړو او انګریزی فوځونه ئې ډیر مشوش او پریشانه کړه؛

۱۹ - د ۱۹۲۷ سنه ء کال غزاده چه د مومند و لښکر د جناب فقیر صاحب علی نګار په مشرۍ کښی د ډنډه ولنو او کرپې په حدود وکښی وجنګیده او انګریزی شلو[۲۰] هوائی جازونو سخته بمباری وکړه. او ډیر غازیان د سپین خاښ د ادیری سره په هوائی ګولو شهیدان شو - او زه (مؤلف «سیال») لمړے وار هم په دغه غزا کښی شامل شوے وم؛

۲۰ - د ۱۹۳۰ سنه ء کال د سمځو غزا وه چه د مومند و لښکر د سرحدی صوبې د پښتنو ورونو په امداد ورغلل او ځو میاشتې د پرنګیانو سره وجنګیدل؛ او د علی نګار فقیر صاحب او جناب فضل اکبر پاچا ګل صاحب هم په لښکر کښی شامل وو؛ او د ترنګزو حاجی صاحب په غلنۍ ګند او کښی دیره وو او د انګریزی فوځ کمان سر اکن لیک کاوه چه برګیډیر وو او بیا وروسته په دویم لوی جنګ کښی فیلډ مارشال اکن لیک شو.

۲۱ - د ۱۹۳۳ سنه ء کال غزاده چه د مومند و لښکر انګریزی فوځ په ګنداو کښی راحصار کړو او غازی محمد عمر خان

کوډاخیل (چه زمانتره وو) پکښی دباد اسیادغره دسر په مورچه کښی په سرولګید او شهید شو او مومند قام برے وګاټه او انګریزی فوځ بیرته په ماتی لاړ او ګنداوئ خوشی کړو.

۲۲ - دسنه ۱۹۵۳ء کال غزا ده چه انګریزی لښکر په یرغل ګنداوته راغی او د مومند ولښکرئ په ایمانداری د وطن د دفاع په خاطر مخی ته ودرید او د انګریزی فوځ مخکښی ترئ ټپ ودراوه او غازی میاجان خان شهید (دمؤلف پلار) د څناورچینی په سرکښی د ګاډ مشهوره پلټن ماته او بالکل تالا کړه او غازیانو بی حسابه ولجی پکښی وکړلی او د انګریزی فوځ نه ټول کسانو نه واخیستل شو او ډیر ټوپک ماشیندار تمانچی کارتوس او غیره د غازیانو لاس ته ورغلل او پرنګیانو ماتی وکړه او د یوی معاهدی په اثر انګریزانو ګنداو خوشی کړو.

دا وی دوه ویشت هغه غزاګانی او جنګونه چه د مومندو خلکو د پرنګیانو سره د ملی ناموس او خپلی خاورے د ساتنی په خاطر په ډیره ایمانداری کړی دی او ډیر ځوانان ئ پکښی

شهیدان شوی دی او دا وو د هغو غزا گانو لنډ تاریخ ؛

د اوږدو خوږیدو خوږېرې قصې دی خو په څلورو ورو ستو غزا گانو

یعنی د سنه ۱۹۲۷ د علینگار فقیر صاحب غزا نه واخله د سنه ۱۹۳۰

او سنه ۱۹۳۳ او سنه ۱۹۳۵ په غزا گانو چې زه پخپله شامل شوی یم

د سترگو لیدلی حال وایم اولیکم که څه هم متاسفانه مفصل

تاریخ خو پلاس کی نشته خو څه می چه لیدلی او کتلی او اوریدلی

دی د دغه جنگونو حال په لنډه ډول لیکم او د خپل ننگیالی قام

حضور ته ئی وړاندې کوم گوندې زمونږ د قومی تاریخ په

سلسله کښې یو څه لږ ه اضافه خو وګڼلی شی ؛ د قومی خدمت

په هیله ؛

« سیال » دلوی پښتون مدیر

# دعلینګار دفقیر صاحب غزا

## سنه ۱۹۲۷ عیسوی کال

د سنه ۱۹۲۷ کال د جون جولائی میاشتی وی چه د علینګار فقیر صاحب چه په اصل کښی د صوات وسیدونکی وو۔ خو خته او اصل ئی معلوم نه وو خو دهغه د ورارہ نه چه ما اوریدلی وو هغه ویل چه مونږ ه په اصل کی نسلاً سیدان یو۔ د صوات نه راغلی وو او په علینګار کښی د ناوګی سرہ نږدی دیره شوی وو۔

علینګار د شینوارو علاقه ده۔ او د ناوګی نه په لمر پریواته او د شیخ بابا او چمرکند نه په لمرخاته او د خانزادګانو کوهی مومندو او د کاږه پانړ د صافو د علاقی نه په شمال او د کمانګری نه او چارمنګ نه په جنوب واقع یوه وړه غونډے درہ ګی دہ فقیر صاحب چه راغی نو دغلته یو جماعت جوړ کړ او د بزرګی شهرت ئی وشو او ډیر خلک ئی مریدان شو او خلکو ورته سنه عقیدہ پیدا کړہ او ارد ت مندان ئی پیدا شو ۔ فقیر صاحب په

علینګار کښې بزرګ خوشو خو دجهاد او غزا شوق هم ورسره پیدا شو او دغازي په لوړ ګټلو پسې شو د مومندو په ټوله علاقه کښې وګرځید او دجهاد او غزا تبلیغ ئې وکړو او خلک ئې دیته حاضر کړه او جوړه ئې کړه چه د پرنګیانو سره غزا او جنګ کولو ته ملا وتړي؛ دمومندو د ټولنې په ځائے « زیارت غاښې » یوه درنه جرګه وشوه چه د مومند قام ټولو سپین ګیرو پکښې پریکړه وکړه چه سنه ده دانګریزانو سره جنګ کوو او فیصله وشوه چه دمومند قام دټولو قبیلو لښکرے دی را روانې شي او ورځو د پرنګی سره جنګ او غزا کوو۔ زه نوے ځوان زلمې شوے وم او د مکتوب زمانه وه په جرګو مرکو کښې مې څه ګډون نه درلود خو څه مات ګوډ لیک مې زده وو نو مشرانو به په اکثر موقعو جرګو ته دڅه لیک لوست دپاره وربللم؛

زه لا په دے نه پوهیدم چه دا جنګ دڅه دپاره او په کوم مقصد کیده؟ او د مومندو قام څه تاثرات او څه مطالبې وې؟ انګریزانو هم څه تجاوز او تیرے خو نه وو کړے چه دجنګ جګړے سبب شي او نه ماته معلوم وو؟ خو اوس پوهیږم چه په پیښور کښې د پښتنو د آزادۍ حرکت شروع وو ضرور به دهغې

اخروو.

د پښتنو مقصد د استعمار مخ نیوی مطلب وو او مومند د دغه غرض د پاره تل تیار والړ وو. فقیر صاحب د اهم اوریدلی وو چه د صوات لوی بزرگ جناب عبدالغفور صاحب چه په ټوله پښتونخوا کښی ډیر مریدان او ما ذونان عقید تمندان لرل او لری ئ - او په ۱۸۶۳ اکی په سرکاوی، ملندری او د مالکنډ په سر د پرنګیانو سره صوات صاحب او سرتور فقیر غزاګانی کړی دی او د هغه ځای پښتانه ئ د پرنګیانو سره جنګولی دی؛ - (۱) او لورو پښتنو بزرګانو هم پخپل خپل وار دغه کار د انګریز سره غزا او جنګونه کړی دی. او د بزرګه شهرت او اعتبار ئ ګټلی دی او کریډت اخیستی دی نو ماله هم بکار دی چه څه دغسی اعتبار وګټلی شم؛ او د مومند وخودا میراثی او تاریخی شوق او ارزو وه چه د پرنګیانو سره دے په قراره کوراو نلی ونکړی او د اټک اباسیند نه چه پرنګیان راپوری وتلی دی نو باید په دی زمکه

---

(۱) د سرتور فقیر اصلی نوم سعدالله خان دی او د بر صوات د مشهور کلی (فتح پوری) وسید ونکی وو) - د جمهور اسلام مجلی (۲۵ جلد ۱۹۷۵ کال نه)

کې په قرار ئې ژوند ونکړلی شي لوهرچا به چه ویلی غزاده لو د مومندو لښکر به ورته تیار ولاړ وو، او هرچا به چه د پرنګیانو سره بدکول لو هغه به په قام کښې نر اولوی او سنه سړی ګڼه شو؛ لوځکه به د مشرانو کور لو خلکو د پرنګیانو په علاقه داړه کولی؛ زما پخپله په یاد دی چه زما شهید تره خانجان کاکا یو واری په ډیری داړه کړې وه او دوه هندوان څوی او پلاړ (سوټی او چونی) راوستلی وو چه بیائی د میچنې ترکزو ملکانو ته ورکړه - دا ډول داړه به کیدلی، لنډه دا چه د انګریزانو پریشانی او هر ډول تاوان کول به مومند جایز او سنه کار ګڼه؛ او انګریزانو که به هرڅه کول او هرڅه بډې رشوتونه به ئې خلکو ته ورکول خو هیچا به د بدنامې او قومې لوړنه نه منل او که چرته به کوم بې ایمانه بې غیرته چا دغه سپک کار ته زړه سنه کړو او بډې به ئې واخیستلی نو قام به چه په خبر شو په هغه پسی به ئې لښکر کاوه او ورتلل به هغه به ئې تالاکاوه او کور کلی به ئې ورلړه ورانه وه او په قلعه باندې به ئې چه برج وو هغه به ئې نړې نړاوه چه خلکو به بیا ورته کونډې وائې؛

لوړ مومندو خود اقوولي ارزو او ویاړ وو چه د غزا موقع پیدا کړي او دوی د انګریزانو سره جنګ وکړي - او ددوی همت دا غوښتل چه تل دی د استعماري قوتونو سره په جنګ جګړه لګیاه وی او ددغه جنګونو لوی مقصد د انګریزانو او استعماري قوتونو مخ نیوی وو لوهرچا به چه ویلی غزا کوو لو مومند به ورسره سم ولاړ وو ؛

د علینګار فقیر صاحب هم د مومندو قام ددغه جذبی نه استفاده وکړه او ددوی لښکرئ غزا ته روان کړو.

ماهم لمړے وار لوی ملا تړ کړے وو او غوګین ټوپک ، پتک او ځولۍ راسره وو سبه د ځوانۍ په نشه مست د خپل پلار سره په لښکرکی روان شوم ؛

د کورنه چه روان شو نو شپه موله دی کبله چه نور لښکر راغونډ شی او راورسیږی په دمه دمه ایله د نغر د میا ګانو کلی او ځائے له یوړه ، او د شکر میا صاحب په دیره کښی زما پلار شهید میاجان خان او جناب ملک محصل خان کاکا یوځائے پاتی شو ، چه زه هم ورسره وم ؛ !!

که څه هم زمونږ په منځ کی وطنی تربګنی او دښمنی د ډیر

پخوانه وی او لا مرګ ژوبلې هم پکښې راغلي او شوې وې خو د
کوډا خیلو د ډیر پخوانه دا رواج او دود وو چه د قومي لښکر
او په تیره د غزا په موقع به ټول تیر هیر وو او د دوو سکنو
وروڼو په شان به تربروڼه یو سنګر ته په ډاډه زړه ورته
په ورته یو ځای سره ورتلل ؛ او د بدګمانۍ به هیڅ بوی هم نه وو
نو ځکه زماپلار او ملک محصل خان کاکا یو ځای او په یوه
صلاه استعماري جنګ او غزا ته سره روان وو ؛
داشپه ډیره د خوند او د مزې شپه وه او د غزا په باب
خبرې اترې پکښې کیدلې ؛ او د استعماري قوتونو په مقابل کې
ځوانان تشویق او تحریک کیدل - صبا ورځ د وخته د صبا ناری
نه روسته لښکر روان شو او زمونږ د ولې زیړ رنګی بیرغ
د مام سید ماما کرم خیل په ورته وو ؛ مام سید ماما هسې
هم د قد نه لوړ دنګ سړې وو چه ما د و مره لوړ دنګ سړې
نه دې لیدلی او چه لا بیرغ به ئې په اوږه که نو راشه که ئې ګورې!!
به ټول لښکر کښې به له ورایه ښکاریده ، غرمې له د ملک شمند روز او
میرجال ملک خویزو ځلې له ورغلو او شپه هم هغلته راغله صبا
ورځ ګدائي تنګی ته ورغلو او شپه مو په ګدائي تنګی او ځناورچینه

وکړله ؛ بله ورځ الهوخیل غازیانو ته ورغلو اوشپه او ورځ مو هلته تیره کړه . هلته د صافو شینوارو ، موسی خیلو ، دویزو او وتمانزو لښکر هم راورسید اوخبر راغلی چه د عثمان خیلو د ټولو قبیلو لښکر هم د خاپښ په لار راغی .

زمونږ ده تره شهید ملک محمد عمرخان غازی بوډ یر خوش باوره سخی او سوچه ساده پښتون مشر ؤ او د علینګار د فقیرصاحب په دے مرید او معتقد وچه د دے غازی دی او غزا کوی . د فقیرصاحب هم د ملک کاکا سره ډیره مینه وه اوښه پرے ګران وو او دعاګانی به ئی ورته کولی او زمونږه ډله هم د لښکر په سرکښی په اخلاص اوشوق روانه وه او غوښتل ئی چه د استعماری لښکرو سره په لمړنی مورچه وجنګیږی . زمونږ دډلی د کمالی په غلوکلی شپه وه ملک کاکا صبا د وخته په خپل اس سورشو اود فقیرصاحب لیدلو ته چه په بختی کلی کی وو ورروان شو زه هم ورسره وم فقیر صاحب یو صوفی ساده سړے وو - لنګ به ئی ترلو سوچه سره بخنه شان ګیره ئی وه اوتل به بنپیا بله ښپی ګرځیده ، په ونه منډری وو لنګ به ئی وهلی وو او یو زرغون رنګی

ځادر به ئې له ځانه نه تاو کړے وو، خوراک څښناک ئې هم ساده وو لږ ے څه وریجې به ئې د ایلنی سره خوړلې او اکثره شپه به ئې په عبادت تیره وله او په زمکه به وده کیده په کټ او یا فرش به نه کیناسته یو وارئې ما پخپله لیدلی وو چه د بادشاه اعلیحضرت محمد نادرشاه شهید په حضور کښې شاهي مانۍ د ګلستاکښې فقیر صاحب زمونږه قبایلي خلکو سره د اعلیحضرت د ورور سردار محمد عزیزخان چه د محمد داود خان رئیس دولت پلار وو او په جرمنۍ کښې چا شهید کړے وو فاتحې د پاره ورغلو - فقیر صاحب د شاهي مانۍ قالین ټول کړه او په یوه دروازه کښې په زمکه کیناست .

دی کله هم په فرش نو وناست !! غازي ملک کاکا هم د فقیر صاحب په حقله ډیرے خبرے اترې اورېدلې وې چه څه خلکو کولې او څه خو پرنګیانو خوری کړې وې ، په هغو کښې یوه خبره داهم وه چه خلکو ویلې :- پرنګیان وائې که د دے فقیرنه دوینې په ځائے شوده لاړه شي نو واقعي دې به په مونږه ـــــــ یالي شي او زمونږه بادشاهي به هم دده د لاسه ورانه شي ! او کنه نو فقیر او دهغه لښکر به

ماتې کړي . غازي ملک کاکا دا خبره هم فقير صاحب ته وکړه فقير صاحب مسکی غوندې شو اووې ويل لوی شی ( دا د فقير صاحب تکيه کلام وو ) داهسې شيطانان دي زه خو بنده يم اوخه کمتی (دميښي بچي ) خو نه يم داخوشي خبرې دي خو په انګريز به ضرور مونږ ه بريالي کيږو که خدای کول او دائې هم وويل :- چه د توپ او جاز نه مه ويريږی او خلک او لښکر پوه کړي چه د ولجو دپاره رسي دځان سره راواخلي ، چه ولجي پکښې راوړې شی .

دا وو د شلمې صدۍ زمونږه روحاني مشر او پير او دا وو زمونږ دخلکو د ذهن ، عقل او فکر اندازه !! هو! دا منلې خبره ده چه هر ليډر همدغسې مبالغه اميزې ويناوی کوی او خلک د لوی کار دپاره روانه وی .

خير ملک کاکا د فقير صاحب نه رارخصت شو ، په دې وخت کې ملک امير خانؒ او لوړ حليمزي ملکان هم راغلل چه پرنګی راليګلی وو ، او ورته ويلي شوی وو چه فقير صاحب او د مومندو لښکر ګندا وته مه پريږدي !!

خو ملک امير او حليمزو ملکانو هيڅ ونلشو کړلي او د مومندو

غازیانو لښکر په منډه هواګیر ګنداوته واوښت ؛ او په وچه جوړ او چینو او یوسف خیلو ډیره شو ؛ صباله دخاپښن په لار د عثمان خیلو د ټولو خیلو لښکر چه عیسی خیل ، خوګا خیل ، اتمرخیل او لوړو یکښې ګډون درلود ګنداوته راوړ سید او د ترنګزو حاجی صاحب فضل الواحد هم د غزا د پاره راغی او په لښکرکښې شامل شو ؛ صباله لښکر سنګر او دوړ باخیلوته ورغی او یوه لویه قومی جرګه جوړه شوه چه د جنګ د ترتیب په باب خبرې پکښې کیدلی -

چا به د ډیری ، شبقدر لار خوښوله او چا به د میچنی پلو د جنګ نقشه جوړه و له خود فقیر صاحب نظر دا وو چه نه سم نیغ په میچنی باندې پیښاور بنار ته ورځو !!

ښه می په یاددی چه د ترنګزو حاجی صلحب ورته وویل چه :- فقیر صاحبه ! په مخکښې خو د کابل سیند دی په هغی باندې به لښکر څنګه پوری وځی ؟ !!

فقیر صاحب ویلی :- نه سیند نشته دی او که وی هم مونږ ته به لار کوی ، ( لوی شی ) !!

په دی کښی خبر راغی چه جرګه راغله ، په جرګه کښی د مهتی

او شو قدر خانان او حلیمزی او ترکزی ملکان وو۔ دا غونډه د سنګر په خوړکښې د برنجي کاټي د غونډې د چینې سره وه او زمونږه غرمه په دوړ باخیلو ارتوتوکښې وه؛ راغلې جرګه هم دغه خوړ ته راوبللې شوه. دغه جرګه وال خانان ملکان د مومند ایجنسي د پولیټکل محمد قلي خان خټک ( د اسلم خټک او یوسف خټک پلار وو ) رالیګلې وه؛ او یو لیک ئې ورته د قام د مشرانو په نوم ور کړے وو؛ په لیک کښې لیکلي مضمون داسې وو :-

عالیجاهان ملکان مومند!

سرکار خبر شوے دے چه تاسي لښکر کړے دی چه د سرکار سره بې موجبه جنګ وکړي۔ مونږه نه پوهیږو چه دا جنګ تاسي په څه غرض او څه د پاره کوئ؟! که څه مطالبې وي خو ولیکئ چه سرکار په غور وکړي. او که د منلو وي چه ومنلې شي! او تاسو د خپلو عالمانو نه هم پوښتنه وکړئ چه په داسې حال کښې چه سرکار هیڅ تیرې هم نه دی کړي او تجاوز نه دی شوے ستاسي غزا څنګه کیدې شي او څه جواز لري؟! مونږه انتظار لرو چه تاسي په خپلې لښکرې ډیرې زر خورې

کړی او مونږ ته به اطمنان راکړی - چه سرکار والا مطمئن شی اوکه کومه خبره لری نو هغه د جرګی په ذریعه سرکار ته وړاندی کړی چه غور وربانډی وشی اوکه نه نو سرکار به مجبوراً لازم اقدامات کوی او د نتیجو مسئول به تاسی یاستی فقط

محمد قلی (ډپټی پلټیکل)

د ایلټ په فارسی ژبه لیکلی شوی وو او ما خلکو ته ولوست.

د لښکر خلکو مختلفی عقیدی څرګندی کړی، چا ویلی چه د ا هسی شیطانان دی او مونږ تیر باسی، او مونږه ضرور غزا کوو؛ او د څینو زمه وارو اشخاصو رائی داسی شوه چه راځه سره بیل شو او جرګی ته څه معقول ځواب خوبرابر کړلی شو کنه؛!

لکه څنګه چه د قومونو دود دے مشران سره بیل شو او جرګه ئی وکړه. خبری اتری ډیری وشوی خو اخر یو څو خبری ئی ورته غوټه کړی او هغه داسی وی:

۱:- د مونږه خلکو نه د پیښاور او ډیری په منځ کی په پلونو پیسه اخلی دا دی نه اخلی؛ او معاف دی شی.

۲:- زمونږه مړی اسپتالونو کی ډاکټران ګوری دا د مړی

بې عزتي ده دادے نشي کیدلی.

۳:- زمونږ په وطن کې چه څوک بوره بد نامه وکړي هغه علاقې ته ورځي او هلته ئې سرکار ساتي او ځائے ورکوي دا ډول شرپوني خلک دے حکومت نه پریدی او بیرته دې د علاقې نه راوباسي؛

۴:- زمونږه د خلکو معاملې چه په علاقه کښې پیښې شي نو هغه دې حاکمان په جرګه او یا شریعت خلاصه وي او عدالت ته دې نه لیګې او مونږه سرکاري قانون نه منو!

۵:- زمونږه د مومندو په علاقه کې دې دوچې والي نه راپور ته حکومت مداخله نه کوي او تامې ماتې دے نه جوړوي؛ او انګریزانو چه د مونږه خلکو سره لوظونه کړې دي هغه دې نه ماته وي.

۶:- په نه څه خبره دې د پرنګیانو حکومت په مونږ پسې لوم بندي نه کوي.

۷:- د پیښاور په پښتنو دې ظلمونه او ناروانه کوي: دا وې هغه خبرے چه د مومندو جرګې غوره او غوښته کړې او راغلي جرګې ته واوروي شوے؛ په راغلې جرګه

کی خان بهادر جبار خان د متی مغل خیل . یو نه غرن سرپے
وو او بل فضل الرحمن خان د شوقدر وسید ونکی ډیر
خبرلوڅ او خوله ور سرپے وو ، هغوی د مومند ومشرانو
ته وویل چه ستاسی داټولی خبرے مونږ منو او د پرنګیانو
د حکومت لخوا مونږ ه درته د دوه (۲) لکو روپو ضمانت درکوو
چه د غه خبری به منلی شی خو تاسی دالښکرے خوری کړی !
خو غازیانو او فقیر صاحب او د هغه مخلصانو ویلی
چه : داد پرنګیانو چل دے لښکرے خوره وی او بیا زمونږه
خبرے نه منی ، او مونږه په غزا پسی راوتلی یو خا مخا به
غزا کوو او دخیره میدان ته ورځو ګورو چه څه پیښیګی ؟
( لوی شی ) .

په دی خبره اکثریت فیصله وکړه - صرف یو څو تنه
زمه وار سپین ګیری او اشخاص د محض بی مطلبه جنګ کولو
مخالف وو او د جنګ په نتیجوئ چه غور کولو نو څه خاص
مطلب او ګټه پلاس نه راتلل او نه لیدل او د ماتی لا تاوان
پکښی لیدلی شو ؛ خود قومی لښکرهاوه - چا څه کولی
شو ؟! ملک محمد عمر خان کا کاله هم خپل شاتر منجاور

اس راتیرکه او ورته په مخکښې ئې ودراوه. دغه وخت
شاتران به هم ښه تکړه وتلي سړي وو او ملا تړلې به
گرځیدل - منجاورهم زموږ ښاتر به تل ملا په پټکي
کلکه تړلې وه او بله به ئې وهلې وی چرسي نشي ئې او
ښه دمنلو سړي وو؛

ملک کاکا د خیر دوعا وکړه او په اس سور شو لښکر
روان شو زموږ بیرغ هم مام سید ماما په اوږه کړو
زه هم په یوه لوړه پوله ولاړ وم ما هم راټوپ کړ او د لښکر
سره روان شوم او د خپلې ډلې سره ملگرے شوم - خو
پلار رمی ولیدم او غږ ئې کړو چه راوگرځه - د پلار حکم
وو هغه خو ومنلې شو - خو دډلی نه پاتی کیدل هم ډیر
گران کار وو او ماته د ډیره سوزه ژړا راغله - خو پلار رمی راته
وویل چه مه خفه کیږه - غزاله به دے بوځم او توره
به دے وگورم !!

خو دا خلک په ورانه لاړه ورغلل او جنگ تدبیر غواړی
لوځکه د دوی سره اجازه د تږ نه درکوم ؛

ښه می په یاد دی چه خلک روان شو لوزما پلار

حاجی میاجان خان او ملک محصل خان کاکا دواړه دخپلو یو څو سرو حیران دریان ودریدل او یو بل ته ئې وکتل او وئې ویلې چه داڅه وشو ؟ !!

دوی هم آخر په دې فیصله وکړه چه دا خلک نیغ په نیغه ورغلل او دا د جنګ کار او تدبیر نه دې او د پرنګیانو سره جنګ کول څه لوکه خونه ده ؟!

دا باوری خبره ده چه دا لښکر مخامخ ورغی نو مرګ ژوبله یکښې ډیره کیږی او اخر لښکر به راماتیږی نو ښه به داوی چه مونږ د پنډیالی په لاړ ورشو او د پنډیالی خلک او ولس دخان سره ملګرې کړو او د شمال لخوا په کړپه ورشو چه د ځنګ اوپلونه دخپل لښکر سره کمک او مرسته وکړلې شو او د لښکر شا تینګه کړو هم داخبره ومنلې شوه او زمونږه ډله په دوعا پاڅیده او دخیر الدین غاښې په لاړ پنډیالی ته روانه شوه او لښکر نیغ په کړپه ورغی مونږه پنډیالی ته واوریدو او عزمه د ملک صفدر او ملک لیاس خان ځاې ته ورسیدو هلته څه ښادی وه او خلک سره راټول شوی وو او مونږه

ئې چې دې حال ولیدلو حیران غوندې شو او ویلې چې دا دواړه
دمومندو درانه سپین ګیرې څنګه یو ځای او دلته بو سره
سره راغلل؟ خو مونږ ورته ئې د ډوډۍ او اوبو سرشته
وکړه او زما پلار حاجي میاجان خان او ملک محصل خان
کاکا ورته حال وویلو چې :-

دمومند قام لښکر د کړپې په لار روان دی او مونږ په
تاسې پسې راوګرځیدو چې له دې پلوه مونږ او تاسې دخپل
قامي لښکر کمک او مرستې له ورشو ، هغوی هم ورسره
دوعا وکړه او د اخبره ئې ومنله ، او د ولس خلکو ته ئې وویل
چې ځئ لاړشئ او ټوپکونه مو راواخلئ او د دې لاندې رود
غاړې ته راځئ او راټولیږئ ! !

یوه بجه به وه چې د اولس خلک د رود غاړې ته سره
دخپلو وسلو په مینه راغلل او راټول شو او زمونږ ډلې هم
ډوډۍ او به کړې وه او غونډې ته ورغلو او د ولسي لښکر
سره یو ځای شو او د کړپې خواته روان شو او څو ګنټې پس
او مازیګر وو چې مونږ ډنډولو د شیره وو پلار ر ورور سیدو
په اسمان کې خره خره وریځ وه او ګرمي هم ډېره په زور کښې وه ؛

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

لښکر چه د ګندائو نه راغلی وو د ډنډ ولنو نه ورتیر شو او بیر غونډ ئی ګډول او سبه په مستئ سره په جوش خروش روان وو ، دا یو بل کیف او بله ولوله وی . که چاته ولی لښکر لیدلی وی او پکښی شامل شوے وی او د خلکو مستئ ئی لیدلی وی نو د دغه کیف اندازه او تصور کولی شی او هسی نور خوک د دی کیف نه څه خبر دی ؛ هیڅ پوهیدلی په نشی !! مونږ هم د غره لیوے لوړے خوکی ته ورو ختلو او د لښکر د غورځنګ تماشه مو کوله ، خوچه لښکر د سپین خاښ ادیرے ته ورورسید په دے وخت کښی وریځ هم راتوره شوه او سبه ګڼه شوه ، او د میچنی د پلوه ناڅاپه شل هوائی جازونه را ښکاره شو چه د لښکر پلو را روان وو - دغه جازونه پنځه پنځه ډلګی شوی وو او یو غټ جاز ئی مخکښی را روان وو چه د لښکر برابر را ورسیدل نو کړ په ټوله غرهار شوه - لښکر په جازونو هیڅ صرفه هم ونکړه او په ډزوئ پرے لاس پورے کړو او خپله وسعه ئی په وکړه جازونو هم دوره را ماته کړه او په لښکر راو ګرځیدل . د لښکر خلک ورته په سپین میدان ولاړ وو او په جازونو ئی ډزی کولی ځکه چه

فقیر صاحب خو ورته ویلي وو چه د پرنګیانو ګولي په هیڅ تاثیر هم نکوي ؛ جارونوبي دریغه ګوله باري شروع کړه یو قیامت جوړ شو او په لښکر کي ډیر مرګ ژوبله وشوه او د هغه تجربه کارو مشرانو خبره رښتیا شوه او لښکر ټول مات ګوډ شو او شپه هم راغله یوائې زمونږ ډله وه چه روغه پاتي شوې وه ؛

لښکر په تیاره کښې رامات شو او هرچا خپل مړي او زخمي په شا راخیستي وو او چا خو په شادرو کښې اچولي او جنازه کړي وو ، د قیامت علامې وې هر څوک په خپل ځانله غم اخته وو ؛ زمونږ سپین ګیری دماښام په مانځه ودریدل او مونږ ته ئې لارښونه وکړه چه لور چا ته خوشه نشي ویلي خوکوډاخیل مه پریدی چه لاړشي !! او رامنځ کړي قام او اسلام غرقیږي ؛ !!

مونږه به هرچا ته ویلي چه مه ځئ او مورچه مه پریدئ هرچا به بهانه کوله چه مړي او یا زخمي را سره دي - دا مړي زخمي خو رسول غواړي - د کوډاخیلو د ډلي نه هم څوک په لوړو لوړو لاړو پټ لاړل صرف په مشکله یو څو تنه مونږ

راوگرځول او چه ځان هو وشماره نو ایله به څلو ښت لږ و ډیر کسان وو- او نور لښکر په مخه لاړو، نو مونږ فقیر صاحب ولید او نه نور لښکریان حیران دریان مونږه پاتی شو اخر مشرانو فیصله وکړله چه ځی د ډنډ ولو دے لوی ناوته ورځو او مورچی پکښی جوړه وو هم اوبه لږی او هم پنا گاهو نه پکښی شته دی - چه د جازونو د بمبارئ نه پکښی بچ شو- هم هغلته ورغلو او پاس په سرولو باندے مو مورچی وتگولی او نور په خوړکښی څملاستو یو عالم پریشانی او خنګان وو شپه خو تیره شوه صبا شو نه ده مونږه سره خوراک وو او نه بل څه!! سبه وو یو غازی وویل چه دماسره په گوړئ کښی څه لږ غوندے وره خوشته دے. دا زیرے زمونږ دپاره ډیر مهم وو او زر زر مو د وړونه ټیکلی پاخه کړه سبه می یادیږی چه دیو غازی د جیم په څادرکښی مو وره واښکل او بیا موگټی لودے کړے او ټکلی پرے پاخه شو او هغه ټکلی مو ټوک ټوک کړه او په غازیانو وویشل شو. او سبه چاره په وشوه غازیان څه ډاډه شو.

په دے وخت کښی دغره دسر څوکی غازیانو غږ کړو

چه لښکر راغی ! او ډیر خلک را روان دی ، خوجامی ئی سپینی دی او اسونه هم ورسره شته دی په هغه وخت کښی د خاصه دارو لوے لوے تشکیل شوے وو او ترکزو حلیمزو ته درے سوه شپیته خاصه دار ورکړی شوی وو او د میاشتے ئی شپیته روپۍ تنخواه وه او دا ډیر شی وو ـ لو خاصه دار په ډیره مستی رکښی ګرځید سپینی جامی به ئی اغوستلی او توری مشهدۍ لنګۍ به ئی په سر تړلی وی ۰ د ورایه به ښکاره معلوم وو !!

مشرانو د سنګر خلکو ته امر وکړلو چه ګورۍ دا خلک به جرګه ماروی فوځیان سپینی جامی نه اغوندی ـ خو وړاندے ئی منع کړید او مونږ ته ئی مه راپریدی ځکه چه مونږ ډیر لږ یو او جرګه مار ډیر دی که هغوئ ته زمونږ صحی اندازه ولګی نو زمونږ خبرے به څه اثر ونلری او زمونږ راز به ورښکاره شی ـ جرګه چه بنه رانژدے شوه نو د سنګر خلکو په غږ وکړو چه لوړ مخکښی مه راځئ !!

هغوی ځادرونه خوځول شروع کړه او دائی ښودله

چه موږ ه جرګه ماريو او صلحه ګريو او موږ ه مشران

را خبر کړي چه د موږ ه سره خبرے اترے وکړي

او موږ ه جرګی له راغلی يو - زموږ سپين ګيري هم

ور روان شو او لور زموږ ملګري هم غره ته ور وختل

زه خو د ليک لوست د پاره د سپين ګير و سره روان وم.

چه ورغلو هم هغه د ګند او نه تللی د خانانو ملکانو جرګه وه

چه د هومند ولسنکر ځغه شړلی وه ؛

جرګه سنه وه دا پيره مره پته راغلی وه او د ځان سره

ئی د غازيانو د پاره هرڅه راوړي وو ډيره ګوړه ، تمباکو

چهنی ، مټائ ، چاے او خوا ږه او غرض هرڅه ورسره

وو .

پخوانی عزيزولی هم بنی وے او په خلکو کښی قومی

غيرت او اسلامی اخوت ډېر نه څه خو وو - هرچا

د خپله وسعه وسعه غازيانو ته څه راوړي وو !! چه

خوراک ، نسوار ، تمباکو او نابات مټائ پکښی وے او د

خوراکونو امبارونه جوړ شو او موږ ه ماره پټ شو ؛

جرګی خپل سوال زاري بيا وړاندے کړه او وي ويل

چه پرنګیان زورور دي موږ په قلار نه پریږدي او ضرور مو
راپیږي او دلته تاسو راته نه ګورئ او نه زموږ خبرې ته
غوږ ګدئ او نه ئې منئ موږ څه چاره وکړو ؟ په موږ
پسې زور دی او مجبور یو له ناکامه دا دې بیا راغلو او هم هغه
زړې خبرې مو بیا راوړې دي او پرنګیانو ستاسي ټولې خبرې
منلي دي او موږ ه ضمانت کوو چه پرنګي به خلاف ورزي
نه کوي .

سپین ګیري هم سره بیل شو او پریکړه په دې وشوه
چه دا پیره جرګه څنګه نه لیګو دوی چه ضمانت کوي او لیکلی
راکوي نو موږ ه نور هم جنګ بس کوو او خبره فیصله کوو
او لښکر واپس کوو بیرته راغلل او جرګي ته ئې وویل :

ښه ده ! دا دویمه پیره ده چه تاسي راځئ او د مصالحت
کوشش کوئ نو دا دې ستاسو خبره موږ ه ومنله په
دغه باب یو لیک ولیکئ او موږ ته ئې راکړئ چه پرنګي بیا
مخالفت ونکړي او تاسي ضمانت وکړئ !!

لیک ولیکلی شو او د جرګي ملکانو او خانانو د مومندو ټول
شرطونه ومنل او ضمانت ئې هم وکړو - او پریکړه وشوه

KITABOONA BLOGSPOT.COM

چه مومنړ به لښکر خوروو او جرګه هم په ډیره خوشحالی رخصت شوه او مومنړ هم د ډیرو خوراکونو سره خپلو ملګرو غازیانو ته واپس شو هرڅه ډیر او نیر وو او غازیان سنه ماړه شو خو یوائې د چاے د پخلی لوښی نه وو هغه وښتو اوس د بیرته تللو بندوبست وو چه ځنګه او په کومه لار بیرته لاړ شو ځکه چه په مخکښی د حلیمزو خاصه دار پراته وو او زمونږ ډله هم ډیره لږه او د شمار سړی وو ؛

په دے باندی فیصله وشوه چه ماښام به د کرپي غاښی ته ځان رسوو او په ګند او باندے به د شپی تیریګو ، د دغه فیصلی په اشر د ډنډونو د مورچی نه مونږ روان شو او هر غازی خپل خپل پټکونه هم د اوبو نه ډک کړه . په دے ملګروکی بادام کاکا هم وو چه خپله زړه لوره او خورین پټکی هم ورسره وو کاکا د اوبو نه خپل پټکی سنه ډک کړو او ځنګ ته ئې واچاوه په داسی وخت او موقع کی د خورین پټکی وبه چه څه قیمت او څه اهمیت او ارزښت لری ؟ په دی د سنګر یو غازی پوهید ے شي دا په قرار قراری کښی ناست څوک په دی څه پوهیدے شی !!

بادام کاکا ته به هرچا په ډیره نیازمندۍ ویل چه کاکا وبه خوبه راکوی که خیر وی ؟ کاکا به هم ویلی چه سبه ده گورو به !!

په لارکی پیچومی ووا وپربنی اوتږے وی دبده مرغه د کاکا نوره په لارکی دیوگټ سره ونښته او ارم شوه او کاکا چه بل خوانه شو نو پټکی په یو بله گټه ولگید او مات شو او وبه تږے توی شوے ؛ او بادام کاکا ورته ډیر حیرت او ارمان په سترگو وکتل او په افسوس ئی وویل آخ څه غم پیښ شو ؟!! خلکو چه ورته وکتل نو د کاکا د غزا ملگرے پټک خوشهید شوے دے او کاکا ورته حیران ولاړ دے ، هرچا ورته ډاډ ورکولو او ورته ویلی چه زه کاکا چه مات شو مات شو نو ! داخو د ماتید وشی دی ؛ دادے غزا هم خلاصه ده دومره ولی خفه ئی ؟ کاکا هم په خفگان تږے راروان شو او یو عالم تأثر ورسره وو چه دده د غزا ملگرے تږے د شهادت په توگه ابدی بیل شو۔

په دے موضوع باندے د قندهار په ادبی مجله کی

ماد خورین پتکی تر عنوان لاندے یوه قصه گی هم
لیکلی وه چه ډیرو خلکو خوښه کړی وه !!

زموږ ده داړله ماښام د کړچه کندو ته راورسیدو
اوګندا و باندے دشپی راتیره شوه او صبا صبا دخاپښ
خوا وشا د خپل ښنکر سره یوځاے شوه ، او ښه ډیر
ستومانه وو او خلکو ته مو ویلی چه ولی داسے بی سرو
سامانه راغلی او موږ ده مو پرلیښو دو ؟

لمړے خو تاسو ډیرے لاپی کولی او سم نیغ په
پړنګی ورتللی او بیا هنده شوه ، تاسی خو ډیرے غوری
او لاپی کولی او انجام ئی دا شو چه بیا روسته موږ ډوکتل نه !!
خو هیڅا هم غږ نه کاوه او مړه روان وو ،

دا وه د فقیر صاحب د علینګار د غزا قصه او د هغی غزا
اثر او انجام - څه وخت وروسته غازی اعلیحضرت امان الله خان
زموږ د مومندو جرګه د عصمت الله خان د میر زمان خان
کنړی زوی په واسطه کابل ته وغوښتله او دغه جرګی
ته ئی د کابل په قلاچه کی د نرجن داس په سراے کی ځاے
ورکړو - زه پخپله هم د خپل محترم غازی او شهید تره محمد عمر خان

کاکا سره د غه جرگی ته تللی وو او شامل وو غازی امان الله خان د دارالامان په بڼ کښی مازیگر د جرگی سره وکتل او د غزا په باب ئی ځینی پوښتنی کولی ، او خلکو ته ئی ډاډ نه ورکوله خو ورسره ئی دا گیله هم وکړه !!

چه سر نور فقیر او یا بل څوک چه تاسی غزا او جنگ ته بیائی نو زه خو هم ستاسی عزیز او ورور یم ماسره خو هم څه صلاه مشوره خو کوی کنه !!

خلکو ورته وویلی چه بیا به داسی نه کیږی .

غازی باد شاه د مومندو جرگه څو میاشتی په کابل کی پاتی کړه او ډیر دارو مدارئی وکړو او د پغمان په بهار هوټل کی ورته بنی درنی میلمستیاوی ورکړلی او ډیر خوشحاله ئی رارخصت کړلو ؛

د غازی امان الله خان څو مهمی خبری داوی هغه وفرمایل چه :

۱- تاسی باید خپل قومی مرکز جوړ کړی او سره راغونډ شی او ماته چه ستاسی د جغرافیه معلومات دی نو بید منی سناسی د غونډ یدو د پاره مناسب او د منځ او سبه ودان ځای دی

هلته تاسی مرکز جوړ کړی افغانستان به تاسی په رسمیت پیژنی او هر رنګه امداد به موکوی !

۲- تاسی چه کله د پرنګیانو سره جنګ جګړه کوی نو افغانستان حکومت باید پرې خبر وی او د موږ ه سره د عزیزولی مشوره باید وکړی ځکه چه زموږ ه زمه واری ده چه ستاسی آزادی وساتلی شو او دا خپله وظیفه بولو

۳- تاسی خپل بچیان د زده کړی دپاره کابل ته راولیګی د افغانستان حکومت به پخپل خرڅ په هغوی زده کړه او تعلیم کوی چه تاسی خلک په علم مجهز شی ! او بهرور شی !

ر لکه چه ښو تنه د مومندو د مشرانو ځامن کابل ته ورغلل او غازی بادشاه په بادشاهی ارګ کی هغوی ته د خپل کور په خواکی ځای ورکړو چه هلته د استقلال د شهیدانو ځامن هم دیره وو ) ؛

یو ښو نورې خبرې هم وی چه ټول تفصیل ئی زما په یاد نه دے - دد غه جرګی په ټول جریان کی زه پخپله شامل او د خپل تره سره ملګرے وم . د پغمان په سفر کی ما په غلطی سره د ماشوق ماما د زخم څه دارو ووچه په ګیلاس کی اوښتی

وو او ماد ربوسره وشکل او سخت ناروغه شرم په کابل کی
یوه ورېږمتی شناخانه وه چه هندی ډاکترانو به په کی کار
کاوه د میرزمان خان په گاډی کی دهغه خوری اکبرخان یوړم
او سنه ووهغه ډاکترانو دارو راکړه اوزه سنه شوم اوشپی
له د میرزمان خان ځای ته چه په قلاچه کی وو راغلو زه بی هوشه
وم خود شپی ناوخته په هوش شوم - نو میرزمان خان
زما په خواکی په مسئله ناست وو او د قرآن شریف تلاوت
ئې کاوه . زما سترگی ئې چه غړیدلی ولیدلی نو خوشحاله شو
او وی ویلی ښنگه ئې ؟
ما ویلی شکر سنه یم !!

میرزمان خان ډیر سخی او ډوډی مار سړی وو او د
غازی امان الله خان ډیر دوست او سنه همکار وو ، د رنگ
نه تور سکاڼ سړی وو ، گیره به ئې منډه کوله سنه دروند
مناړلی په ونه برابر سړی وو او کله ناکله به ئې د اعزازی جرنیلی
دریشی هم اغوستله په غازی امان الله خان سنه گران هم
وو .

داوه د فقیر صاحب د غزا قصه چه په لنډ ډول عرض

شوه او اوس به د ۱۹۳۰ سنه د سمځو او صاحب ګل شهید
د غزا قصه خپلو درنو لوستونکو ته عرض
کړو .

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

# د سمشو او دندو لنوغزا

## سنه (۱۹۳۰) عیسوی کال

---

په سنه ۱۹۳۰ عیسوی کال د اپریل په میاشت کی انګریزانو
په صوبه سرحد د پیښاور ښار په قصه خانی کی په ولسی خلکو
ګولۍ وچلولی او په ټوله علاقه کی په قومی خلکو او خدائی
خدمتګارانو زور زیاتی او تیری راواخیسته او مارشلا فافذه
شوه او د هغه ظلمونو او ناروا اثر په آزاد قبائلو هم وشو
ځکه چه آزاد قبائلی پښتانه تل - سره د بی علمی نه د خپلو بری
پښتونخوا وسیدونکو پښتنو سره او هم د ښکته لری پښتونخوا
د وسیدونکو پښتنو سره همیشه د سختی او مصیبت په وخت کی
غمشریکی او خواخوږی او همدردی کړی ده او د خپلو پښتنو
ورونو سره ئی غم ښادی یو کړی ده او د دغو دوو روولی
د جذبو ښکاره تاریخی مثالونه د افغانستان داخلی جنګونه
د استقلال جهاد او د سقاو سره جګړی دی - چه د قبائلی

پښتنو د قربانو بهترین او ثرگند مثالونه پکښی وړاندی شوی دی ؛

چه په هره سخته موقع کی قبایلی پښتنو د خپلو ورونو کمک او مرستی ته ځان ور رسولی دی او ښه ثرگنده او موثره برخه ئی پکښی اخیستی ده او په ایمانداری ئی د افغانستان تللی عزت بیرته په ځای کړی دی ؛

همدغسی کله چه په ښکته پښتونخواکی و سید ونکو پښتنو باندی سخته راغلی ده ، نو هم دا قبایلی پښتانه د خپلو ورونو کمک او مرستی ته په ډیر اخلاص او مینه ایمانداری او د وروڼګلوی په جذبه او عزیزګلوی په ولوله ورپا ثیدلی دی او ښی قربانی ورکړی دی ترڅو چه په هغه ورونوئی ستونځی لری کړی دی خو د افسوس خبره داده چه دوی خو په خپله بی علمه بی لیک لوسته وه او بل چا هم د دوی په باب څو مره چه د دوی حق وو هیڅ هم نه دی لیکلی او د لوی برې پښتونخوا ورونو د قبایلی ورونو دی کردار ته خدای خبر چه په څه سترګه کتلی دی ؟!
او د خپلو دی بی وزله بی علمه ورونو د خواری او افلاس

ادبي علمي لرې کولو په لاره کې ئې د ورور ګلوي د جذبې نندارې کار اخیستی دے ؟ !

خوشحاله چه لیدلی او اوریدلی شي د قدر په سترګه ورته چا نه دي کتلي او چه وخت تیر شوے دے او دډیرې ضرورت پاتې شوے نه دے نو ماماګان خپلو کورونو ته تش لاس تللي دي او بیائې چا پوښتنه هم نه ده کړې او نه ددوی د تعلیم او تربیې خواته څوک په پام شوي دي ! او د بده مرغه د اول نه تر اوسه هم دغسې د خدائے رحم او کرم ته پاتې دي .

( دا هسې زما خپل ذاتي تأثر وو چه ومې لیکه او باید د ورور ګلوي په سترګه دغسې مهمو کارونه وکتل شي او زمونږ د ملي پیوند دپاره اساسي فکرونه وشي !! )

هم دغه تأثرمې د اختر په موقع د جلال آباد په شاهي باغ کې د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه حضور ته هم عرض کړې وو او هغه وخندل او وې فرمایل چه :

پخوا که څوک نه وو بنه دے اوس خو ستا په شان خلک په قبائیلو کې شته دے دا هرڅه ولیکې چه خلک ورته په

پام شي او بيا غلطي تکرار نشي . دا هسې يوه ضمني يادونه وه چه ووېلې شوه !!

په ۱۹۳۰ سنه کښې د پېښاور په ټوله علاقه کې د قومي حرکت شروع شوې وه او ځوانان او زاړه د ولس خلک ټول د قوم او وطن خدمت ته راټينګ شوي وو - لوېرنګيانو د خپلې بادشاهۍ دپاره د پښتنو دا ډول قيام ډېر لوی خطر وګانړه ! که څه هم د انقلابي تحريک په هند کې ډېر پخوا موديٰ نه را روان وو خو انګريزانو دومره اهميت ورته نه ورکاوه . خوکله چه پښتانه په سياسي او تنظيمي شکل په دغه انقلابي تحريکونو کې شريک او ورګډ شو لوېرنګيانو د پښتنو د جغرافيائي موقعيت او ددې قوم د ميړانې او جنګيالی توب اهميت ته خاصه پاملرنه وکړه او ددغه ډول آزادي خواه تحريکونو د غلي کولو د پاره ئې په اقداماتو پيل وکړو - د ښکته پښتنو نه خوا په پښتنو ئې ډېر زور زياتې او ظلمونه را واخيستل او په تيره په باچاخان ئې داسې نادودې وکړې چه د انسانيت ترېنه شرميږي !!

او په قصه خانه کې ګوره پلټن په يو جلوس د اپريل مياشت (۱۹۳۰) کال کې ګولۍ وچلولې او ډېر خلک ئې شهيدان کړل ؛

لوډغه آزادی غوښتونکو تحریکونو قبائیلی پښتانه هم
راویښ کړه او دانګریزانو مقابلې ته ئې تیار کړه او ددغه
ډول تحریکونو اثر په قبائیلی علاقو کښې هم وشو او دخدائي
خدمتګارۍ په نوم په قبائیلو کې هم ځینې تنظیمونه جوړ شو
لکه د مثال په ډول مونږه په کړماخیلوکی دخدای خدمتګارۍ د
تنظیم دجناب مولوی میرحسن صاحب خویزی هومند په
لاربښوونه چه په پیښاور کی وسیدلی وو او د سیاسی تحریکونو
سره بلد وو ابتدا وکړله اویوه ډله موجوده کړه او ددغه
تحریک او تنظیم شروع مود خلافت په نامه وکړه او ډیرو
خلکو پکښی ګډون وکړو او ددغه تحریک په برکت مونږ
په کوډاخیلوکی یوه قوی مدرسه هم جوړه کړه چه زه پخپله
په داو طلبانه ډول درې کاله پکښی د سرمعلم په صفت په
خدمت بوخت وم او وړیا می دا کار په شوق سره کاوه
او وړونه به می درسونه ښوول ؛ !!
ډیر کلونه دغه مدرسه وچلیده او ډیرو خلکو پکښی
لیک لوست زده کړه ، او ګټه ئی تری واخیسته ، خو آخر
دځینو عواملوله کبله زمونږه چه څه رنګه ارزو وه

هغسې مدرسه ونه چلیده ، دغه وخت کې د پیښاور په علاقه کښې به چه هرڅه کیده د پښتنو ورورې دومره خوږه شوې وه چه د هغې اثر به مستقیماً د آزادو قبائلو په پښتنو هم کیده ،

ټوله دے امله چه د پیښاور په پښتنو سخته ورځ وه او ډیر مرګ ژوبله پکښې شوې وه ټول مومندو غازیان هم ورپاڅیدل او دخپلو ورونو په ننګه ورغلل او په سبحان خوړ او صاحب ګل شهید ورته دیره شو او په انګریزي مورچو او تاڼو به ئې ډاړے کولې او پرنګیان ئې سنه ناقراره کړل - غازیان به ورتلل او د شپې به ئې په پرنګیانو ډاړے کولې او انګریزي لښکرو به د ورځې د غازیانو په مورچو بمبارۍ کولې .

یو وارې زموږ ډله د رحمان ټومې ارخې وال په مشرۍ (چه زموږ سرے وو) ورغله او دډیرې شبقدر په منځ کې په لوی سړک ئې درے موټرے لارۍ وینولې او وې سیزلې او سامانونه ئې ترے ولجه راوړل . د پرنګیانو بادرا و ملیشو چه څه مزاحمت وکړو هغه ئې هم پسې واخیستل د علاقې دننه

شا و خوا خلکو به هم غازیانو ته خوراک څښناک تمباکو نسوار او د ضرورت وړ شیان راوړل او غازیان ئې سنبه ماره پټ ساتل یوواری خود لوئے اختر په ورځ په دومره ډیر شمار کې د خوا و شا کلو نه خلک د وریجو او پراټو او غوړو او غیره وسره په ګڼ شمار کې په سنکاره راغلل او ډلې ډلې راروان وو او پرنګیانو ئې هیڅ ممانعت ونکړلې شو ؛ او که د پرنګی فوځ به د ورځې څه ممانعت کاوه نو د شپې به هغوی راتلل او غازیانو ته به ئې خوراک څښناک راوساوه ۔ زمونږ په ډله کې یارو میا هم موجود وو ؛ میا صاحب ډیر سنبه غږ لاره او سنبه خوش آوازه وو او غازیانو ته به ئې خوږے خوږے ټپې کولې او د غیرت سندرے به ئې ورته ویلې د میا صاحب سره وسله دده پخوانۍ زړه توره وه چه بیا سنته به ئې یکې اچولې وه او په غاړه کې به ئې پرته وه او میا صاحب پرے د سنبه ټوپک نه هم ډاډه وو او د ډیرې مینې نه به ئې ورته لیلیٰ ویله ؛

یوواری صباځ وختی ملا نظر ګل غازی چاے جوش باندے کړے وو او غازیانو ته ئې چاے جوړولو په دې کې جاز راغې

او بمباري شروع کړه غازيانو ټولو خپلو پناګاهونو
ته منډې وهلې او په سمڅو ننه وتلو ميا صاحب چه
څه وخت وره له ورغی نو ليلی د سمڅې په خوله کی غبرګه
ونښتله او ميا صاحب که هر څو زور کړلو خو ليلی منع
کاوه - ميا صاحب د ډيره قهره ليلی ته د قهر په لهجه ويلی
چه بلا د ووخوره يو دګو سنګرو والا دے هم مړ نکړو او هسی
زما د غاړے طوق شوے ئ ؛
او د ملا نظر ګل چاے جوش خو همدغسی د جوش شيدو
په حال کی شهيد شو او پرنګيانو ډير لوے لوے بمونه
راوغورځول ، دومره لوے بمونه وو چه يوی په يو خوړ
کښی ولګيد لوے ډنډئ جوړ کړو او وبه ئ راښکاره
کړے چه غازيان به پکښی لمبيدل او غازی ملک عمرخان
کاکا د پاره خو دغه ډنډ ډير غنيمت شو هر وخت به پکښی
لمبيده ؛
دے غزا څو مياشتے دوام وکړلو او اپريدو هم په
لسم د مئی جګړه جوړه کړه او په پيښاور ښاری حمله وکړه
او مال ګدام ئ تالا کړو - څو مياشتے پس انګريزانو پښتانه

بندیان. اخرښی کړه او په سیاسی جماعتونو لئ هم پابندی قیدونونه او بندیزونه لږ کړه او خلکو څه د ارام سا واخیستله نو د مومندو د غازیانو هم دا مطلب وو او هغه وشو او د غازیانو لښکری هم راخورے شوے او سبه وو چه څوموه جنګ جګړے او بمبارئ کیدلی دو مره مرګ ژوبله په غازیانو کی وشوه زمونږ ښکاتنو ورونو که په قید او بند هرئ پور او پیښاور په جیلونو کی وراځی شپی تیرولی نو مومندو او نورو د قبائیلی علاقو پښتنو ورته په مرچو کی د عزیزولی په خاطر شپی ورځی تیره ولی او په سمڅو او خوړولو غاړونو کی ورته پراته وو او د خپلو ورونو سره ئې غم یو کړے وو -

داوه د هغه ورونو غزا او د هغې حال ، ر په دغه د غازیانو سره د کمک په تهمت کاکاجی صنوبر حسین خان هم متهم شو او سره د خپلو څو ملګرو لکه شهید اسلم او حافظ صاحب سید امیرجان پاچا او سید مرتضیٰ پاچا د مومندو غازی آباد ته راغلل چه شهید اسلم او حافظ صاحب د باجوړ په سوال قلعه د شموزو د ملک نصر خان په کلی کی چاد شپی شهیدان کړه او سید امیر پاچا څه ډیره موده پس بیرته وطن ته راغی او کاکاجی تر هغی

په مومندو باجوړکې وو چه ترڅو پورې نګيان لاړل او وطن آزاد شو او د سياسي خلکو نه هرقسم پابندي لرې شوې نو کاکاجي هم بيرته وطن ته ورغی او هلته ئې د خپل شهيد ملګري اسلم په نوم (اسلم) مجله جاري کړه اوان تر مرګه ئې خپل کار کاوه .

او سيد راضي پاچا ان تر مرګه پاتې وو او وطن ته لاړ نه شو تر څو چه په سوال تلتنه کې مړ شو او د خپلو ملګرو په منتل کې ښخ شو ؛

او سبه د ۱۹۲۳ ء عيسوي کال د غزا په بابت څه وليکم ؛

# د ۱۹۳۳ سنه عیسوی کال د ګنداو لمړی غزا

د ۱۹۳۳ سنه ء کال په پسرلی کې د کوړا خیلو غازیان بیا له دے امله چه پرنګیانو په پیښاور کې په پښتنو سیاسی جماعتونو بده وریځ راخیستی وه د داړے په ډول روان شو خویږ ځینی غازیان هم ورسره مل شو او غوښتل ئې چه په ډیرې شوقدر او شاوخوا تاڼو وزرے ډوزی وکړی او د غزا ابتدا وکړی او پرنګیان متنبه کړی چه په محکوم پښتنو زور ظلم او تیرے نه کوی او د خپلو داړو په اثر د انګریز لښکری پریشانه کړی ؛ نو پخپله د خپل غازی پلار او غازی تره ملک محمد عمرخان شهید سره یو ځائے ملګرے وم .

زما پلار حاجی میاجان خان سره یو ډله غازیان سرمایه نام د خویزو د جمعه خیلو نه روان شوی وو او له ګنداو نه تیر شوی وو . زما د تره عمرخان شهید خو د روند کارو وو مونږ څه لږ وروسته تلوته تیار شو او شوقدر ته ور روان شو

اونور د حلیمزو ملکان او خاصه دار

لاپخوا پرنګیانو ګنداو ته دد ے دپاره رالیګلی وو چه تاسی

په غازیان نه پریدئ ملک اوخاصه دار راغلی وو او

په توره تیګه اوبار وخیلو پراته وو مونږ چه روان شو لنو

مخبر خبر ورکړو او ملک او ورسره درے ځلور سوه

خاصه دار زمونږ مخې ته راووتل او د شپې په تیاره کی ملک

لاړ ے ته راغی او رساد ملک عمرخان کاکا د آس په

مخکښې ودرید او وی ویلی چه مونږه انګریزان نه پریدی

مجبور یو مونږ تاسی د پرنګی بد وکولو ته نه شو

پریښودلی . زمونږ د کورنی د ملک سره د بیره

جوړه وه او د ګندی پرے جنبی لین هم ورسره وو او په

د بیرو موا قعو زمونږه کورنی د ملک سره ښیګڼی

کړے وے او هغه ئی د هومندو د قوی لښکر د سولو او تالا

کولو نه بچ کړے وو .

ملک عمرخان کاکا ورته ویلی چه دا مه کوئ او د انګریز

په ځاے زمونږ مخې ته مه دریږئ خو هیڅ ونشو،

ملک او خاصه دارو سخت مقاومت کولو

او زمونږه قوه هم د هغوئ په مقابل کی څو چنده لږه وه او دا مناسب ونه ګڼل شو چه انګریز پریدو او پخپل منځ کی په مرګ ژوبله اخته شو ؛

مونږه خفه او همدغسی د ارمان نه ډک زړه بیرته راوګرځیدو او زما پلار رحاجی میاجان خان خونللی او رسیدلی وو او په تالیزئی یرغل کړی وو او بنه دندوکارئی په جوړ کړی وو او صبالد غازیان روغ رمټ بیرته راغلل مونږ چه په ډیر خفګان راوګرځیدلو نو د ... ر ډاخیلو غازیان او مشران په مومندو بتول قام او په تیره په عثمان خیلو وګرځیدل او د ملک او حلیمزو د دی حرکت شکایت ئی ورته وکړو او په حال ئی پوه کړه .

د مومند وبټول قام هم د کوډاخیلو سپین زیرو په سپکاوی خفه شو او د هغوی خبره ئی ومنله او په ملک لیسی لښکر را روان شو ؛

د سرحدی ... وبی ( پیښاور ) گورنر « سر رابلینډ گرفتې »
وو هغه په دی علاقه کی ډیر وخت تیر کړی وو او د پښتنو
دخوی بوی سره ښه بلد او اشنا وو او د ملک ... خصوصی دوستی
او اشنا هم وو ؛ هغه ملک ... د مومندو دلښکر مقابلی
ته ښه تیار کړی وو ؛

د مومندو لښکر چه د چکنور مرحوم غازی ملا صاحب
ځوی محترم غلام نبی جان آغا هم پکښی وو او هغه وخت ورکوټی
وو خو د مومندو په لښکر کی تیر گا روان وو کندا وته ورواړید
لو خاصه دارو د بیکی خیلو او لنډ برت خیلو د مورچو نه په زور
پیل وکړو .

زه په دغه جگړه کی پخپله حاضر او د سر په ډله کی روان
وم - د ستوگو په رپ کی د لښکر خلک په مورچو ور وختل او
خاصه دار په منډه وتښتیدل ؛
یوازی ملک ... او یو څو تنه نور سپین گیری دیوی ډلی
خاصه دارو سره د پرتی د ملک میالال په قلعه کی حصار
پاتی شو او لښکر تری یو خوا بل خوا تیر شو .
جناب حاجی میاجان خان او نور کوډاخیل غازیان

ترے په شمالي خوا تیرشو او ناڅاپه ته ورورسیدل او
عیسی خیل او نور د غره د پلوه راغلل او زمونږ ډله پرے
مخامخ ورغلو - زمونږ بیرغ چه خلکو ولید د هر پلوه پرے
یرغل وشو او زمونږ ډله په یوه منډه چه بیرغ د محمد سید
کاکا سره وو د میالال د قلعه کوټې ته ورورسیدله دا مخامخ
ورتګ څه اسان کار نه وو - ګولۍ وریدلې یوازې د بیرغ
لښتنه به کم ترکمه لس ډزه لګیدلې وه او محمد سید کاکا
بیرغ نیغ د کوټې په خوا کې ناڵ که - زمونږ په ډله کې یوازې
کونړ ملک میاجان زخمي شو - ملک           د عیسی خیلو
په واسطه د صلح غوښتنه وکړه او ضمانت ئې - زریزي ونړښتل
چه ماروغ           وباسي - داد منارکي جرګه هم یوې بنځې
د محمد شاه خان مور چه څوې خاصه دارو کي وو او په قلعه
کي حصار وو په واسطه وشوه . د ملک           انتار خویزو
سپین ګیرو وکړه او هغه د قلعه نه راووت خلکو
دوی ئې روغ پر لیښو دل چه لاړشي او یوشو
تنه چه مره وو مړي ترے پاتي شو خود حمید خان ملک
د کلي سره په ناخبرتیه کي پرے بیا غازیانو د غرو نه ډزے

و سرپټ او ملک ادم خان خویزي پکښی زخمی شو او څه وخت پس مړ شو ـ

ملک خیل کلی چینو ته لاړ ، په کلی کښی ئې د مزري چیني شمنډوز اهنګر په اورکی ولوید او بی چاره مړ شو ،

اولښکر په ډیر بری او فاتحانه ډول راستون شو ، انګریز ویلی چه په مناسب وخت کی به سرکار مومندو ته تادیبی سزا ور کړی ؛

اخر یوتن د شمشاد اقبال اهنگر پلار ئی

په لاس کی مرکړو او د مومندو قام غصه بیا راوپاره وله او

په ۱۹۳۳ سنه کښی بیا ورلیسی د مومندو لښکر ورغی

پرنګی ته موقع په لاس ورغله او د پرنګیانو

لښکرے په ناڅاپی ډول ګند او ته راغلی او په غلنئ کی ئی

کمپ ولګاوه مومند قام چه خبر شو هم لښکری ئی راټولی

کړے او د مقابلی د پاره ګندا و ته ورغلل . د پرنګیانو بلاړیر

فوځونه راغلی وو او په کړپه باندے د فرنګ مقصد د پاره

سم ورسره سړک هم را روان وو -

دا د اپر میاشتی آخرے شپی ورځی وی او د پشکال شروع

وه او د اسد میاشتی روستنئ شپی ورځی وی موږه هم

نوی د کابل نه راغلی وو د مومندو ملکان د جناب حاجی

محمد حسن خان مومند د ګرداو خان سره کابل ته تللی وو

او ډیر ښے مرستے ئے په کابل کی د حکومت میلمانه وو په اخر

کی حاجی محمد حسن خان حکومت منع کړو او جرګه ئی رخصت

کړه .

دجرګې دراتلوسره سم دلته غزا وجنګ هم جوړ و اوپه ګنډاوکښې بنه لوده جګړه روانه وه هره ورځ به جګړې او دشپې به غازیانوپه کمپ باندې داړې کولې ، انګریزې لښکربه هم کله ناکله دکمپ نه دباندې دجګړې دپاره راوتلې او دخه ړزو ډوز اومقدمې نه پس به ئې ماتې ؤکړه او بیرته به کمپ ته لاړې ؛

خو انګریزې لښکر دغازیانو دشپې ددا ړونه ډیر په تنګ اوناقراره شو (ایس،پی،شا) په هغه وختکې دمومند ایجنسي ایجنټ پلیټیکل افسروو دفوځ جرنیل پلیټیکل ته وویل چه دا داړې دحلیمزو ملکانو په صلاحیت لوبايد دحلیمزوخاصه دار دکمپ نه اودفوځ نه دباندې حفاظتي څوکۍ جوړې کړي چه فوځ په امان شي - پلیټیکل په خاصه دارو تانې هم جوړې کړې اوڅوکۍ به ئې کولې خو بیاهم په دې هیڅ کارونشو اوغازیانو هم هغسې داړې کولې اودشپې به ئې ړزو ډوز جوړ کړې وو .

اخرفوځي جرنیل ډیرپه قار شو او په فوځ کې هم

ډیر مرګ ژوبله کیدله ـ ملک انمیر او حاجي عبدالله د
ګندا و غټ سپین ګیری ئی وغوښتل او په کمپ کی ئی په سره
نور بندیان سره کړل .

د حاجي عبدالله مرحوم د خولی خبره ده چه ویلی :

مونږ جرنیل بندیان کړو او د برچیک سپاهیانو شوکه
رانه و دریدله او په سره نور ئی کینولو ؛ او ټوله ورځ
مو په نور تیره کړه . او دا مو د ځانه سره ویل چه دا د خپل
قوم سره د بیلتون او د پردو سره د وفادارئ او تعاون انجام دی !
په صباله پولټیکل مونږه وغوښتو او د جرنیل د سخت بند
نه ئی خو خلاص کړو خو نظربند ئی بوتللو او په شبقدر کی ئی
د باهر په کمپ کی ئی بیا نظربند کړو .

ملک انمیر ماته ویلی چه :

عبدالله دا څنګه وشو ؟ !!

آخر زمونږ د خدمتونو دا انجام شو ؟ !!

قام ته مو مخ تور شو او پرنګی لو را باندې داسی و کړو
اوس څه چل په کار دے چه ددے عذاب نه خلاص شو داڅه
غم راپیښ شو ؟ !!

KITABOONA BLOGSPOT.COM

ما ورته ویلي چه ماله خو بل چل نه راځي خو ګاندهي جي چه کله پرنګیان بندي کړي او د هغه مطالبه منلې نه شي نو هغه هړتال وکړي او روژه ونیسي او خواړه څکه پریدي آخر پرنګیان چه پوه شي چه دده د مرګ ویره ده نو خوشې کړي او مطالبه ئې ومنله شي؛ مونږه هم بل څه خو نشو کړلی یو خو ګرفتاري د سرحد ګورنر ته خبر لیږل پکار دي چه زمونږ په حال خبر شي او هغه اوس په چراټ کې دے هغه ته چه څوک ولیږو او بل باید روژه ونیسو او هړتال وکړو.

د ملک امیر هم دا خبره خوښې شوې د ګورنر په عنوان مو یو درخواست ولیکه ورته مو کرنیل کړه چه کمکونه خو پریده د فوځ جرنیل مونږ بندیان کړي یو او د خدائ په قهر او غضب ګرفتار شو او د باهر په کمپ کې نظر بند یو - او مونږه هم هړتال کړے دے روژه مو نیولې ده چه د لوږے نه مړه شو چه د لورو خلکو د پاره دا زمونږه مرګ د عبرت درس شي چه بیا بل څوک د خپل قام سره داسې نه کوي.

دا درخواست مو ولیږه او مونږه په روژه شروع وکړه چا چه ډوډۍ راوړه مونږ ورته ویلي مونږه په روژه یو نه خورو

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

او مونږه ږړۍ بنولې ده او هړتال مو کړے دے !! او ځان وژلو !!

هغه سړے لاړ او چا ارباب صاحب ته پټې پولټیکل ته خبر کړے وو هغه راغی په شوقدر ډیرۍ کی وو او افسرانو ورته خبر ورکړے وو چه راغی مونږه ته ئې وخندل او ویلی دا څه کوئ ؟ دا د چا خوږی کوی ؟ دا ولی ؟ .

مونږه ورته ویلی چه :

نه ځان وژلو چه د شرم نه خلاص شو !!

ارباب صاحب ډیره منت زاری وکړه خو مونږ لا دم کی وو او د هغه خبر مو ونه منله او ارباب صاحب خفه بیرته لاړ دویمه ورځ چه شوه نو د ملک النمیر کا کا حال بدل شو او حوصله پکښی لږه نه وه پاتی ، دے بنرغټ او د عمره پوخ سړے وو د لوږے تندے تاب پکښی شه نه وو !!

او دکټ نه چه راپا څیده نو بیرته پرے وتلو او ما ته ئې ویلی چه :

عبد الله جوړے په لوږه می وژنی !!

او زما سترګی تورې ږې او خوږیدلی نشم او

لور طاقت نلرم روژه نشم تهینگولی -

ماورته ویلی چه:

لږ صبر وکړه ناکام کوه زه په ارباب صاحب پسی خبر وکړم چه ملک کاکا ناروغه دے اوته راشه! هغه چه راشی هغه بیا هم ضرور د روژه ماتی وائی لو په هغه به ئ وراحسان کړو - او روژه به هله ماته وو -

د باډرا فسرته ی خبر ورکړو چه د پټی پلټیکل ارباب صاحب راخبرکړی ه چه ملک انمیر سخت ناروغه دے !!

څه وخت پس ارباب صاحب راورسید او په خندا شو ویلی څه چل شوے دے ؟ !!

موږ ورته ویلی چه ملک کاکا هم ناروغه دی او موږ ه لتا سره صلاه مشوره کول غواړو ؛ پرون چه موږ ه ستا خبرد ونه منله لو بیا وروسته په دی چه ته زموږ ه عزیزاو قام ئ اوخلیل هو مندئ موږ ه خفه شو - لو ته هو راوغو ښتی چه صلاه درسره وکړو چه څه چل وکړو ؟ !!

هغه ویلی ماخیل کارکړے دی اوگورنرمی ستاسی په حال خبرکړے دے او د هغه حکم هم شوے دے چه دوی

دے روژہ ماتہ کړی او د بند نہ دے فوراً خوشی شی . او ماته ئې نن تر زړه راولیګی !!

مونږ هم خوشحاله شو او د روژه ماتی هم بنه بهانه جوړه شوه - ارباب صاحب چائے او شربت راوړل او مونږ روژه ماتی وکړو او د بند نه هم خلاص شو د ارباب صاحب سره لاړو او هغه ئے نه ګورنر ته ورغلو مازیګر وو ګورنر د کور په چمن کی ناست وو او مونږ ئې دستی وغوښتلو بنځ ئې هم ورسره ناسته وه - ملک النمیر دګورنر سره ډیر آزار مجلس لاړه او ډیرے ګیلی ګذارے ورته وکړے او دګورنر بنځی ته ئې وویل داستا میړه ډیر بی وفا او بی غیرته سړے دے په ما ئې داوکړل چه د خپل قام سره ئې دښمن کړم او اوس دے بی غمه ناست دی او په مونږه بده ورځ ده .

هغه د ملک کاکا په خبرو په خندا شوه او وی ویلی چه مه خفه کیږه اوس به ستا حمایت او معاونت او کمک ضرور کوی .

مونږ ته ګورنر چائے راکړی او بنه په نړه ئې رخصت

کړو - او جرنیل ته ئې هم وویلو چه دوی خود سرکار دوستان دی په دوی به هیڅ کار هم نلری !!

خو الممیر کاکا چه پېښاور ته راغی ویلی چه ترڅو په ګنداو کی جرنیل وی زه د ګنداو دتلو نه یم اونه زم - همدغسی وشوه چه ملک الممیر تر آخره ګنداو ته رانغی ترڅو چه فوځونو واپس لاړل !!

دا خو د ملک الممیر او د پرنګیانو د دوستئ حال شو !

اوس بیرته د انګریزانو او د مومندو د لښکرو د جنګ جګړې قصې ته راځو !!

دا جګړې بنې په زورکې روانې وې او غازیانو به په هر میدان ګټه کوله . وروسته د پرنګی فوځونو په تنګ شو او د مخکښې تنې اقدام ئې وکړو او یوڅه پېر فوځ مخکښې راغی او د باد اسیا سره ئې کمپ ولګاوه او دکځې او یوسف خیلو سره ئې هم پکتهونه جوړ کړه په دغه ورځ د ښاپښ کنډو ته نژدې دیوې پلوسی لاندې د مومند یوه جرګه راغونډه شوه او د غختي کنډو د بیولو ویره وه په دغه باب ئې سره خبرې اترې کولې . آخر فیصله په دې وشوه چه دغختي کنډو

حفاظت په هر قیمت چه کیږي کول پکار دي. ټولو خلکو هرچا
کو د اخیلو ته مخ ورواړاوه چه تاسي ورشئ او د نختي څوکۍ
وکړئ - کو د اخیلو غازیانو هم دا خبره ومنله او څه ډیل ئې پکې
ونکړو او د حاجي مسعود خان ماما په مشرۍ کې زمونږه ډله
نختي ته ور روانه شوه او په دوه درې ګنټې کې مونږه نختي
ته ور ورسیدلو ؛ د نختي کلي ته چه ورغلو هلته ډیره بده
ورځ وه. د هوائي جازونو بمباري کیدله او فوځونه هم تکبني
راغلي وو او د توپونو بې شماره ګولۍ وریدلې. د نختي د کنډو د
په لمرخاته په یوه مورچه کې صرف یوځو تنه د چمرکنډ هندي
مجاهدین د جناب مولوي بشیر صاحب لفرې پاتي وو او نور
څوک نه وو.

زمونږ د ډلې سره په نختي کې (سپین اهنګر او سیداني
غازي بیکي) هم ملګري شو دا دواړه کسان ښه وتلي او نومیالي
توریالي باتور غازیان وو، هغوئ رانه ویلي چه مونږه ښه
بلدیو او لارې راته معلومې دي او د باداسیا کمپ ته به مو
ښه نژدې ورولو - مونږه سره هم د غزا او دارې شوق
وو او دوعا مو وکړه او ور روان شو او په نختي ور وختلو

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

رشتیا ډیر سخت وو او خلک زمونږ دے جرأت ته حیران پاتی شو !! خو هرچا ویلی چه دا خو دکوډا خیلو غازیان دی اوګوری چه میدان ته څنګه ور روان دی !!

دګولو باران وو او مونږه په یوه منډه دغرۀ سرته وختلو جاز راغی سخته بمباری شروع شوه اوتوپچی هم چه مونږه دغرۀ په سرکی ولیدلو نو دګولو باران ئی راباندے جوړ کړو او یو ورکوټی قیامت جوړ شو !

او مونږ په یوه منډه دغرۀ نه په فوځ پسی ورکوز شو که څه هم مونږه ډیر لږ شمار کسان وو خو دفوځ پلټن ولاړ شوه او کمپ ته روانه شوه مونږه هم پسی حمله وکړه خو د مخامخ پیکټونو او مورچونه په مونږه د ماشیندارو ډیر سخت بارونه وچلیدل او د ندوکارلئ جوړ کړے وو خو مونږ په منډه د ورپسے دوئی جوړے د پوس خان دکاله نه لاندے کندو ته ځان ورساوه !!

په دے کی د ماښام خړ هم راغله او مونږه سم په فوځ پسی ور روان وو او د باد اسیاکندو ته ور وختلو - زمونږ بیګانۀ تیره شپه او دا تیره ورځ هم نهاره وه او غازیان

وړې تښتې وو !!

زموږ په ډله کې د خنجر کلي ببر سړے پاچا هم وو خپله وسله د لاس تبرګۍ هم ورسره وه او ډېر ښه وتلې غازی وو - هغه ته غازیانو ویلي چه پاچا جانه دې بادا سیا زاړه کلي له ورشه که دا خلک څه د ډوډۍ امداد وکړي نو ډیره ښه به شي !!

پاچا صاحب هم لکه شیر کلي ته ورغی د سترګو په رپ کې ئې ښې ډیرے پیټرے ډوډۍ نو دے راوړے چه کلي والو په یوه منډه ورته یخ کړے وے او د غازیانو ښه کار په ښو رښتیا چه د ګندا و عامو خلکو او ولس د غازیانو سره ښه ډیر کمکونه کول او د پرنګیانو د فوځ د حمل ونقل او غیره نه به ئې غازیان په وخت وخت خبرول او د ضرورت په وخت کې به ئې وبه ډوډۍ هم غازیانو ته ورکول ؛

موږ د شپې ور روان شو او دیکښې د حمید خان ملک د کلي په نورخاته خوږ مو راوښولو او مخ په کمپ راغلو زموږ په دے ډله کښې د ملک مدار خان موسیٰ خیل سړے او دے پخپله هم وو - او یو دوه تنه عیسیٰ خیل هم راسره ملګرے وو

زموږ د ډلې مشري ماما حاجي مسعود خان کوله چې ښه ډېر نږدې کمپ ته په سل گزه فاصله ور ورسېدو۔ په کمپ کې رڼا وه گیسونه او لالټینونه لگېدلي وو او ښه رڼائي وه او موږ هر څه لیدل۔ موږ هم پرې ورپاشیدو او شروع مو په وکړه۔ یو دوه بارۍ چې وچلېدل هغوی په ټول کمپ کې رڼا مړه کړه او د پاس پیکټونو نه چې زموږ ځای لیدلي وو د ماشیندار د گولو باران جوړ شو او داسې رسا گولۍ به ئې ویشتلې چې هیڅ خطا یکښې نه وه۔ لږ څه ورو ښته ډزې څه غلې شوې۔ زموږ یو ملگري د پښدیو پاچا چې غزاله راغلي وو او ډېر شوق ئې وو او ډېرا صرار ئې کاوه چې ما دړې ونکړې یو بل فیر کول پکار دي موږ بیا ورپاشیدو او په کمپ مو بیا اوربل کړو او ډزو مار جوړ شو په دې کې د کمپ نه د رسالې اسونه را خلاص شو او یوه اسپه او یو اس زموږ لاس ته ولجه راغلل اخر څه وخت پس موږ هم راروان شو. لږ پاس چې راغلو نو چا ویلې چې هلکه ځان وشمارئ چې پوره یو که نیمگړي !!

چې ځانونه مو وشمارل نو زموږ په ډله کې صفدر خان کوډا خیل

او ز مونږه پوهنو کړ ګل زمان نومی او د موسی خیلو په ډله کی شلی کاکا او د فیض طلب څوی محمد دین نه وو - چا ویلی چه دا به لګیدلی وی او په ځای به لویدلی او پاتی شوی وی چا ویلی چه نه د منږی سره به په مخه تللی وی او د خاصه دارو په شوکه به ورغلی وی او هغوی به بیولی وی. غرض دادی چه ډیره سودا او اندیښنه راپیدا شوه ، اخر ما ویلی چه راځه بیرته ورشو او هغه ځایونه ولټوو که سړی پاتی وی چه رائی وړو - موسی خیلو خو چور انکار وکړو او وی ویل چه زمونږ خو په خپلو سړو باور دی هغوی به ځان ضرور روغ رسولی وی او که تاسی پخپلو سړو بی باوره یاستی نو ورشی وی لټوئ - د ماسره هم شوک ملګری نه پیدا کیده او هر چا به ویلی چه هغه ځای ته بیا شوک ورتللی شی ؟!!

اخر غلام سید کوډاخیل راملګری شو او وی ویل چه زه درسره ځم !! مونږه دواړه روان شو او هغه ځای ته ورغلو چه د کوم ځای نه مونږه ډزی کړی وی. ښه لټه مو وکړه خو هیڅ هم نه وو اخر د تحقیق په غرض مایو داوړ تیلی رڼا کړو شوکه والا چه رڼا ولیدله نو بیائی د ماشیندارو

دګولو باران جوړ کړو او غلام سید ماما په ما ډیر قهر او منت وکړو چه ته مونږه هسی خوشی وژنی !!

اخر چه ډیرے قرارے شوے نو مونږه ترے راوښوئیدو او خپلو ملګرو ته راغلو هغوی هم زمونږ په انتظار ناست وو صفدر خان او ګل زمان هم ناراسته نه وه کړے او دلمړو ډزو سره ئی په شا د ننګی وو او ملګرو ته ئی اډوکتلی نه وو او سمه ینغه لاړی نیولی وه او خاپښ ته ئی خپلی ډلی ته ځان ور رسولی وو - مونږه ډیر خفه بیرته د وچی جوړے په لار څناور چینی ته راغلو ، د وچی جوړے د پوس خان په ځائے کینی مو څه وبه چلم وکړه مونږه بیرته چه خاپښ ته خپلی ډلی ته راغلو خبر شو چه صفدر خان او ګل زمان هم را رسیدلی دی مونږه چه هغوی ولیدل ډیر منت او ملامت مو پرے وویلو . ددے سره خبر راغی چه غازی ملک محمد عمرخان کاکا بیګاه د محرم میاشتی په ۲۶ نیټه ۱۹۳۳ عیسوی کال سره دخپلی ډلی ورغلی دے او د باد اسیا د غره سرئی نیولی دی او نوے راغلی کمپ ئی محاصره کړے دے او سخته جګړه روانه ده - رشتیا چه دغه غر په انګریزی کمپ ډیر حاکم

وو او صباٸ د وخته چه عسکر د پریړ د پاره راوتلی وو۔ ملک کاکا او ملګروٸ په د ګولو باران جوړ کړے وو او په فوځ کښې ډیره مرګ ژوبله شوے وه داد محرم میاشت ۲۶ ورځ صبا وختی ووچه ملک کاکا په کمپ حمله وکړه۔ جرنیل هم فوځ ته حکم ورکړو۔ چه پیاده فوځ دے د شمال او شمال ختیز نه په غره وروخیژی او رساله دے د جنوب او جنوب ختیز نه د خوړ په لاره د غره نه راچا پیره شی پرنګیانو دا حمله په ډیر زور او شور وکړه۔ د پیادو په محاذ غازیان څه نه وو او د غره د سر غازیانو نه هم لار پناه وه او هم د جازوېنو او توپونو د رزهار وو ورځ ئې شپه کړے وه او د ګولو باران وو چا څه لیدلی او کتلی شو؛ رساله چه رامخکښې شوه نو غازیانو سنه مقاومت وکړو او سنیه ئې وړ ته تینګه کړه او رساله ئې مخکښې تړ ته راپری نښوده او د پرتی د میالال د کلی نه بیرته تللو ته مجبوره شوه د رسالی په مقابل کی د عیسیٰ خیلو ملک زاوالدین وو او سنه جګړه ئې وکړه د لالپوړے او نور غازیان هم د بایزو کلی نه پاس د غره لمن ئې ته ورختلی وو او جګړه ئې کوله

پیاده فوځ په پناه لاړغړه ته راوخوت او د غازیانو سره لاس په

لاس جګړه ونښته په دے منځ کی غازی محمد عمرخان نواب

مخامخ په سر به ټوپی یو انګریز لښکر [illegible] شهید شو

او د هسکانی نوم ئی وګاټه - ان تر [illegible] خرپے پورے د اجګړه

روانه وه ؛ ماښام نژدے موښره هم چه ډیر سنړی وو

تیره شپه مو جګړه [illegible] او د لوږے هم [illegible] هم وو بیا د

جګړے میدان ته ورغلو - غازیانو شهید ملک عمرخان کاکا

[illegible] او د جنازے په مخ لی لی زما [illegible]

یکی یوائی چه د شهید ملک [illegible] په جګ

[illegible]

[illegible] ورور د پاره څومره سخت ساعت دے ؟ څو دحا [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible] اغله ځکه چه ملک [illegible] خان یو [illegible] بهادر سخ [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible] صاحبزاده صیب نو حاجی کاکا د آمرقه دبی

[illegible]

[illegible] ملک [illegible] یو وی بهادر سه [illegible]

لیدو له امله راټول شول - د جنازې لمونځ چه وشو نو زما پلار حاجي میاجان خان خلکو ته په ږېره بدلې غږ وویل :

عزیزانو ورونو !

همت مه بایلئ ! په جنګ کې دا پیښیږي او زمونږ د کورنۍ خو دا میراثي وظیفه ده په هره غزا کې زمونږ د کورنۍ ضرور څوک د وطن او قام په مخکښې شهید کیږي دا زمونږ فرض دی چه په دې مقدسه لاره کې به قرباني ورکوو او خپل ملي او اسلامي پت به ساتو !!

مونږه به مجبوراً د ا شهید د دفن د پاره ولیسو خو تاسي نه هیله کوو چه هیڅوک به هم زمونږ سره نه ځي او مورچه به نه خوشې کوي او میدان او سنګر ټینګول د هر څه نه اهم دي زمونږه خوشحالي داده چه تاسي دا سنګر ټینګ کړئ مونږه به ټول قرباني ورکوو ترڅو چه پرنګیان د خپل وطن نه وباسو .

دې موثرې وینا ډیر تاثیر وکړو او ټولو خلکو ژړل جنازه راواخیستل شوه او کورته راوړې شوه ، زمونږ میندې او ترندې چه د غزا د پاره راغلې وې او د ملک شمند روز په ځای

کی وی هغوی هم خبرے شوے او د جنازے سره مل کورنه راغلی. په ۲۷ محرم ۱۹۳۳ کال د شهید ملک دفن وشو او د تل د پاره زمونږ نه بیل شو !!

او د کړ اخیلو په ادیره کی د خپلی کورنی د شهید انو سره یو ځائے شو،

ملی شاعرانو د ملک کاکا په شهدت ډیرے مرثی غزلے بدلی او چاربیتی ولیکلی او وی ویلی چه مشهور اشعار یکی د جناب قاری عبد المستعان صاحب د پیښاور مرثیه لیک وو او وریسی د جناب مولٰنا قیام الدین خادم » د کامی او د جناب مولوی محمد عمر بلبل افغان د لالپورے د فاتح لیکو نه او ملی اشعار وو او د حضرت ولی د غازی آباد مشهوره چاربیته وه۔

صبا ۲۸ محرم چه هونږ ملک کاکا دفن او ښخ کړو زمونږه دله ټول بیرته محاذ ته ورغلو . نو ما پلار حاجی میاجان خان بی چاره چه پخپله د خاپښ په جگړه کی خو ورځی مخکی د هوائی جاز په گولی لگیدلی وو او لا ښه جوړ نه وو او د وروړ شهادت هم ژوبل کړے وو د غزا میدان ته ور روان شو او د شهید کاکا په سمند اس سور وو۔

دغه جنگ یوه میاشت نور هم دوام وکړو۔ خو آخر انگریزان په تنګ شو او مخکښی ترې ئې هیڅ ونکړلی شو ؛ جرګه ئې راولیګله په دغه جرګه کی هم دشوقدر، او مهتی خانان او حلمزی ترکزی ملکان وو یوائځی ملک الفیر یکښی نه وو راغلی !!

پرنګیانو داومنله چه زمونږ فوځونه به واپس کیږی او مونږ په دے وطن کی هیڅ مداخله هم نکوو ۔ او د کړی جوړکړے سرک به هم نه استعمالوو ۔ دجرګی یو مهم غړی دشوقدر فضل الرحمن خان داوینا وکړه ؛ چه دانګریزانو به ستاسی په علاقه کی نه یو سپاهی پاتیږی اونه به ئې سور پټکی او سور شملی ( یعنی پولیس وغیره ) وی ۔

داجرګه د ګندائو په یوسف خیلوکی وشوه او د سرحدی صوبی ګورنر ورته پخپله راغلی وو ، خود کودا خیلو مشرانو د انګریز سره لیدل کتل وبال ګاڼه لو په جرګه کی ئې ګډون هم ونکړلو ۔

په دغه غزاکی د کوداخیلو سید نظیم ، قدرګل او عظیم خان هم د تورے تیګی په مورچه کی شهیدان شوی اولعل جان اوبسم الله

زخمي شوي وو .

د مومندو جرګې د پرنګيانو سره په دغه خبره فيصله وکړه او انګريزانو په څو ورځو کې بيرته حرکت شروع کړو نو د مومندو لښکرې هم ښه په فاتحانه ډول راستنې شوې او خلک په خوشحالۍ خپلو کورونو ته راغلل خو يوائې زمونږ په کورنۍ د شهيد کاکا د شهادت له امله يو دروند غم پروت وو -

څو ورځې پس شهيد اعليحضرت محمد نادرشاه د افغانستان د خلکو له پلوه د فوځ په نمايندګۍ محمد قاسم خان بټو ليمشر او د ملکي خلکو په نمايندګۍ ښاغلي محمد عمرخان احمدزی د لوګر د سرخواب وسيد ونکی د کامې حاکم سره د څو سپين ګيرو او مشرانو چه د ګرداو محمد يوسف خان هم پکښې وو کوډا خيلو ته را وليږل او ښاغلي سردار محمد قاسم خان د ننګرهار اعلی حاکم ورته زماد پلار حاجي ميلجان خان په نوم يو د تعزيت او خواخوږۍ ليک هم ورکړې وو - چه حاکم اعلی پکښې د افغانستان د خلکو او حکومت خواخوږې او زهير تيا څرګنده کړې وه .

رښتیا چه هغه وخت د کابل «اصلاح» اخبار ښې خبرونه وکړې او پخپله اعلیحضرت محمد نادرشاه او حکومت ته یې په سفارتي سطحه انګریزانو سره ښه په ترخه لهجه خبرې اترې وکړې او د مومندو حمایت ئې کاوه او هم داد نادرشاه افغاني جرأت او د میړانې ښه مثال وو؛

دا وو د ۱۹۳۳ سنه کال د غزاد سترګو لیدلې حال چه درنو لوستونکو ته عرض شو. اوس به د ۱۹۳۵ سنه کال د غزا حال چه د اول نه تر آخره پورې پکښې پخپله زه شامل وم او د غزا په میدا نکښې په ټولو محاذونو او جنګونو کې مې ګډون درلود ښاغلو او مننلو لوستونکو ته مفصل عرض کړم -

# د ۱۹۳۵ سنه کال غـــزا

په ۱۹۳۵ سنه کال کې پرنګیانو د خپلو کړو وعدو په خلاف د کرړپې په سرک کې نوی کارونه شروع کړه او ځای په ځای د خاصه دارو تانې او پیکټونه جوړ کړه او نوی حرکت شروع کړو. د خاصه دارو شوکو به هم مومند خلک په لوی کې په عذاب ول او په سرک بانده هم دلارو موټرو تګ راتګ روان شو او دا کارونه ده غه لوظونو چه پرنګیانو د مومندو د جرګې سره په ۱۹۳۳ سنه کې کړی وو سراسر او ښکاره مخالفت وو هم په دغه وخت کې انګریزانو بیا په پیښاور او خواو شاعلاقو کې په پښتنو قوم پرستو نادودې او ناروا راواخیستلې او زور-زیاتي ظلمونه او جبرونه پرې وکړل او په عین هم دی وخت کې د پنډیالي برهان خیلو عیسی خیلو چه د کرړپې سرک د دوی د خوښې او رضانه چپ د دوی په علاقه او حدودو کې تیر شوی وو - برو مومندو ته راغلل او وګرځیده او ژړاګې وکړه چه پرنګي په مونږ زور زیاتي کوی او زمونږه د رضا نه غیر ئې

سرک را وستلی او زمونږ حدود لاندے باسی - تاسی زمونږ قوم یاستئ زمونږ امداد وکړئ او د پرنګی نه دخپلو وعدو پوښتنه وکړئ چه مونږ خپله خاوره او وطن بیرته آزاد کړلی شو -

دا ټول پاس عوامل رایوځائے شو او دمومندو سپین ګیرو په زیارت غاښی کښی له دے کبله جرګه وکړه او فیصله یې دا وشوه چه بنه ده مونږ دخپلو ورونو عیسیٰ خیلو برهان خیلو کمک له ورځو.

دهم دغه فیصلی او پریکړے په اثر زمونږ دکوډا خیلو لښکر لمړے په ۱۲ اسد ۱۳۱۴ هجری کال او ۱۹۳۵ عیسوی کال دکوډا خیلو نه روان شو ، غرمه په قوطی خویزو کی راغله شپی له د ملک میرجال او ملک شمند روزځائے نه کوزو خویزو له ورغلو - صبا (۱۷ اسد) ۱۳۱۴ ه کال ګدائی تنګی ته غرمه ورغلو په ۱۸ اسد دګدائی تنګی زاړه کلی له دشپی لاړو او دهغه ځائے نه مو پاچا ګل صاحب سره خبر وا خیست او لیک مو ورولیږه او د لښکر د حرکت نه مو خبر کړو صبا ۱۹ اسد مونږ احد کورولو نه ورغلو او د ګندا او حلیمزو ته مو د حسن میا صاحب

په واسطه د هومند و د لبنکر د حرکت نه خبر ورکړو او د همغوی نه هم په لبنکرکی د ګډون خواهش وکړلو ؛ او ورته ولیکل شو چه د خویزو ملکان به ګند او ته د جرګی د پاره درځی تاسی د جرګی ځای وټاکی او هلته سره راغونډ شی چه جرګه وشی او په حال سره پوه شو ؛

صباله بیرته خبر راغی او حلیمزو لیکلی وو چه مونږ ه تیار یو - د خویزو ملکان چه راغلل مونږ ه به ورسره جرګه مرکه وکړو او ځان به ترې پوه کړو.

په همدغه ورځ مونږ د ملک بیاس خان او ملک غماس خویزو په منځ کی صلحه وکړه او په دغه ورځ پاچا ګل صاحب ته بل لیک هم ولیګلی شو او د خویزو د جرګی د پاره د اټاجوړ و ټاکلی شو د ګل په ورځ (۲۰ اسد) مونږ ه د خویزو نه حرکت وکړو او شپې له غخی کمالی ته ورغلو په (۲۱ اسد) پاچا ګل صاحب راغلی وو او مونږ ه د کمالی نه پنډیالی ته حرکت وکړو او صبا نارې وخت د پنډیالی درې ته د ملک تاج محمد ځای ته ورغلو . ملک تاجی لوړ لوړ د ننګ سړی وو او د پنډیالی سنه درونډ سپین ګیرې وو - خود پرنګی مواجب خور وو لو

خدکوسنه نه کانه ، مونږه هم په کلوکښې خواره شواو غرمه مو
په دره کی تیره کړه او ماښپښین د طور ملا ځای ته ورغلو او
شپې له (۲۲ اسد ) د ملک لیاس خان او صفدر ملک ځای
ته ورغلو او هلته یو ډاکټراو یوه سرې هم وو زمونږ ه
سره ئې ښه میلمه مداروکړو او شربت او چای هم راکړې
صبا غرمه هم هلته وو او شپې له (۲۳ اسد ) د ملک گلاب شیر
ځای ته مونږ لښکریان ورټول شو ، په همدغه ورځ د
موسی خیلو او حلیمزو سپین گیرو جرگه چه پرنگیانو رالیگلی
وه را غلل او پو لټیکل ورته یو لیک د لښکر د سپین گیرو په
عنوان ورکړے وو چه زما په یاد دے مضمون ئې داسی وو:

د برو مومندو ملکانو او مشرانو !

سرکار خبر شوے دے چه ستاسی لښکر بیاد ځه وران کارئ
دپاره را روان شوے دے نو دا ډول وران کاری بد انجام لری
او بد عاقبت ئې وی ،

نو تاسی ته خبر درکول کیږی چه خپلی لښکرے خورے
کړی او که نه وو نو سرکار به دا ډول لښکر ته ځنگه چه مناسب
وگڼی او لازم ئې وبولی سزا ورکړی او بمباری به پرے وکړی

او سزا به ورکړے شی ، اطلاعاً خبر درکړی شو. فقط

(د مومندو دایجنسی پولیټیکل افسر)

د مومندو لښکر چه اکثریت پکښی دکوډاخیلو وو جرګی ته

وویل چه برهان خیل عیسی خیل زموږ عزیزان دی او قوم

دی او د هغوی علاقه پرنګیان په زور نیالی لاندے باسی.

او هغوی په موږ ه فریاد اوژړا کړے ده چه زموږ په علاقه

کښی په زور پرنګیان سرک تیره وی - موږ ه د خپلو عزیزانو

کمک او مرستی له راغلی یو - او هغه خلک برهان خیل او عیسی خیل

دادی حاضر دی که دوی ته تاسی یا پرنګیان قناعت ورکولی شی

نو زموږ ه لښکر به خور شی او که نه هرڅه نتیجه ئی چه وی موږ ه

به د خپلو ورونو او عزیزانو د حقوقو ساتنه کوو او په دے

لارکی هرے قربانی ته ولاړیو ، جرګی ته عیسی خیلو او برهان

خیلو وویل چه موږ ه د انګریزانو سرک قطعاً پخپله علاقه

کی نه پریږدو - جرګی هم څه لوے خبره ونه موندله او بیرته

ناکامه لاړه -

موږ ه د شپی د ډوډی دپاره د ملک ګلاب شیر ځاے ته

ورغونډ شو او د ماښام ډوډی چه وخوړے شوه لږ د کړی

وعدے سره سم زمونږ او د برهان خیلو لښکریو ځائے اوګډه حرکت وکړو او د شیروُ په لاره کرپې ته روان شو او لږ څه وخت پس د ډنډ ولو حد ته ورسیدو او په سرک قبضه وشوه او خاصه دار ما صدار د سرک ساتونکی وتښتیدل او سرک د غازیانو په لاس کی راغی -

صباله جهازونه راغلل خو غازیان په پناه ګاهونو کی ترے پټ شو او څه خاصه دار او ملیشه د جګړے په نیت راغله خو غازیان پرے ورغلل او هغوی پر لوه منډه په ماتی بیرته په شا وزغلول او د غازیانو جرأت لا پسی ډیر شو او د ډنډ ولو خوا و شا سرک ئی ټول پسی وران کړو او د ټانګ راتګ نه ئی وویست د غرونو نه ئی پکښی لوی لوی تیږی، کنډے او کمرے راواچولی او لاره بنه بنده شوه - په دغه کال په کرپه بنه واښه هم شوی وو او بارانونه هم وو - غازیانو به د شپی ترنا وخته د سرک د ورانی کار کاوه او صبا نژدے به خپلو مورچو ته د ارام کولو د پاره راغلل نو ماشی به پرے راخواره او د هر غازی نه به ئی چه وینی نه وے بهولی نه به ئی پرلیښوده او لږ څه وروسته به باران هم پرے راغی او ارام ارام چرته وو؟!

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

صبا به د هر غازي جاى سره په وينو رنګ وي چه ماشو
به چيچلي وو - دجمعې په ورځ پرنګيانو دهوانه سخته بمباري
وکړه او ټول محاذئ بمبار کړ خو د خداى فضل وو چه په
غازيانو کې څه مرګ ژوبله ونشوه -

د شنبې په ورځ خاصه دارو بيا څه حرکات وکړو او غازيانو
پسې ورتلل او بيائې مات کړل ، په دغه ورځ هوائي جازونو هم
د خاصه دارو کمک کاوه او سخته بمباري کوله خو د بمبارۍ
چه څومره زور وو دومره دغازيانو تلفات نه وو صرف يو تن
مسي خيل لاروى سره دخپل غوائۍ دډنډ نه دپاسه دجاز په
ګولۍ ولګيد او شهيد شو . دغوائۍ غوښې خو دغازيانو دپاره
غنيمت شوې ځکه چه دا دويمه ورځ وه چه غازيانو ته ډوډۍ
نه وه رسيدلې - دبرهان خيلو عيسى خيلو هغه وعده چه
کړې وه چه ډوډۍ به مونږ دررسوو ونشوه او هر څوک د
خپل ځان په غم کې وو د مونږه سره چه څه توښه موښه وه هغه
هم په خلاصيدو وه ، نيني ميني هم خلاصې وې ، سرې مرې
ډوډۍ به چه چاسره وې هغه به ئې يو کپ نيم داوبو سره تيراوه
او خپل وخت به ئې پرې تيراوه - سيدان کاکا زمونږ سيو،

KITABOONA BLOGSPOT.COM

کوډاخیل سپین ګیری به ویل چه : غزاخوکوو خو د پښتو نه
پکښې خلاص شو - چا به ویلی څنګه کاکا ؟! هغه به ویلی یوه
لمړۍ ډوډۍ وی هغه چه مونږه په خوله کړو او شخوند پرې
مات کړو د پاسه نه یو اشنا سړے راشی وائی څه دی ؟ !!
څنګه ئی ؟!

مونږ دواړه شخوند بند کړو او ست صلاخوا ډو شته
دی نه !!

د موسی خیلو په بمونو لګیدلی غوائی نه زمونږ یو نوکر
امیرمحمّد تره خیل یو څه غوښه راوړه او زما د پلار د پاره ئی
کباب کړه ، نو او زما د تره شهید ملک محمد عمرخان ځوی
محمد عوض خان هم په دے تمه ور روان شو چه ګوندے مونږ
ته به هم څه برخه خوراکړی چه ورننوتے شو نوغازی حاجی
صاحب خو پاس دغه په سرکی دیره وو او څارنه به ئی کوله او
مونږه لاندے په سمڅوکی دیره وو - حاجی صاحب چه مونږ
ولیدو وی ویل خیر خو دے څنګه راغلی ؟ او څنګه په بره
راروان یاستی ؟ !! که دغوائی دغوښې په تمه یاستی خوزه په
قرار کړی دا ستاسی دپاره نه ده دایو څو د شمار پوټی دی

او هغه لاندې ئې څو تنه سپين ګيرې چه دي دا هغوی ته ليګم!!
او رښتيا چه هم دغسې وشوه د کباب د شمار يو څو تيکي وی او هغه
ئې هغه د ډلې يو څو تنو مشرانو ته وليګل او په موږ ه خو
هسې د کباب او وريتي تش بوی راغی - موږ ه امير محمد ته
ويلي چه سړيه! دا خو غرايه وو او څه غوښه به دي ډيره
راوړې وي کنه! هغه ويلي غواړئ خو رښتيا چه غواړئ و وخو دا
وږې غازيان ګورې کنه د مچ ميږ پشان په رالتوی شو او ما
ايله بيله په خوارۍ دا څه رابود کړه ؛

شپه هم تېره راغله او نوره د لوږې په مقابل کې حوصله
هم نه وه - ښه وو د کور نه څه نو ښه موښه را ورسيدله او
زيرے هم راغي چه فهيم جان راروان دی او وړه او د حلوې وزې
به هم راولي.

په دغه نو ښه زموږ ه زړونه څه ډاډه شو او په وجودونو
کې مو څه سا وغړيدله د وړو نه موټکې پاخه کړه او ښه کار
په وشو ټوک ټوک د غازيانو ورسيده او نورم صباته پريښودل ؛
په دغه ورځ هم ډيره بمباری وشوه او د شيخ بابا والو لاړو و
نه قچرے ولګيدے او مړے شوے او هم پرنګيانو اعلان

KITABOONA BLOGSPOT.COM

وکړو او داد یکشنبې د ورځې په اعلان کې لیکلي شوي وو چه د دوشنبې په ورځ به سرکار د پنډیالۍ او دانشکول په علاقه د هوائي جازونو نه بمباري کیږي او د مشین گن ډزې به کیږي د دغه ځاې خلک دې خپل کلي او کورونه خالي کړي - همدغسې وشوه د دوشنبې په ورځ بمباري وشوه او د ماشیندار ډزې وشوې خو سبه وو چه څوک او زخمي نه شو .

دغه وضیعت په غازیانو نوره سختي او بده ورځ هم راوستله او دغه ډوډۍ مړۍ تمه چه له دغو خلکو نه وه هغه هم خلاصه شوه او د پنډیالۍ خلک خپله بې کوره او بې اوره شو ؛

دموږ سره خو سبه وو څه وړه وو او څه لوښه هر سبه مو د سختۍ د پاره ساتلي وه او زړه مو ډاډه وو - د سه شنبې په ورځ بل اعلان وشو چه د مخکښې جمعې په ورځ به د ساپو قندهارو ، گربزو ، مسعودو په علاقه بمباري کیږي او هوائي جازونه به خپل بمبار اجراکوي - خلک دې ځانونه په څنگ کړې په دغه ورځ د غازیانو په مورچو هم سخته بمباري وشوه خو سبه وو تلفات او تاوان ونه رسیدل -

د یکشنبې ، دوشنبې ، سه شنبې او چارشنبې په ورځو کې

KITABOONA BLOGSPOT.COM

څه یکه دوکه جګړې وشوې او پرنګیانو غوښتل چه دغازیانو کارتوس مردکی خلاص کړي او بیا به راشي او همداسې وشوه؛

دپنجشنبې په ورځ ۲۲ اګست ۱۹۳۵ کال دشپې په تیاره کې فوځ حرکت کړې وو او مخکښې راغلی وو خود غلو غونډ سره چه اوس ورته یکه غونډ ویلی شي دغازیانو سره مخامخ شو او په اخرکې فوځ ماتې وکړه اوڅه دزملکې د ټلفون مزي اوڅه قولی کارطوس غازیانو ترې ولجه کړل او بیرته خپلو مورچو ته راوګرځیدل؛

په ۲۳ اګست ۱۹۳۵ کال دجمعې په ورځ انګریزي فوځ په ډیره پراخه پیمانه حرکات وکړه او بیا دشپې په تیاره کې ډیر مخکښې راغلی وو او دا یولوی تعرض وو ځکه چه پرنګیانو ته مخبرانو خبر ورکړې وو چه غازیانو سره نه کارطوس شته او نه خوراک څښاک، لو پرنګیان ښه ډاډه او په قراره راروان وو خود سپین خاښ دادیرې سره دغازیانو سره مخامخ شو او سخته لاس په لاس جګړه ونښته اویو غازي دا ایاندارځوی خوادیرې په یوه زاړه قبرکې ځان پټ کړی وو اوڅه بوټې موټی ئې په ځان اچولی وو - خومره کارطوس چه ورسره وو همدغومره

ئې په فوځ کې مرګ ژوبله وکړه او چاته ځاے نشو معلومېدلی آخر سپینه رڼا شوه او فوځیانو د غازی ډېوټیک د خولې دوړه ولیدله او د ماشیندار فیرونه او د توپ ډزے په وشوے او غازی شهید شو او اوس د ډیرې شبقدر سړه په یوه لوړه خخ دے !!

غازیان ډیر لږ وو او مقاومت ئې ونکړلے شو او فوځ لوړهم مخکښې راغی - د پنډیالې پلو په غره کې د فضل شاه پاچا مورچه وه څه صافی هم ورسره وو هغوی څه ډزه ډوزه کوله خو فوځ ترے مخکښې راتیر شو -

ښه مې په یاد دی چه د شونکرې ملا د پاس مورچل نه غږ کړو چه اې خلکو ! او اې غازیانو د انګریز فوځ داد ے راغی !! د شونکرې ملا یو نر باتور غازی وو او د شونکرې وسید ونکی وو او یو لس ډزے ټوپک به ورسره وو او تل به د غزا په میدان کښې حاضر وو او د سرسپاهی وو ، د وئی نه منډے وو او خړے جامې به ئې اغوستلې او خړپټکی به ئې په سر وو نری شوکړه ګیره ئې وه - همدغسې یوبل وتلی غازی د قندهارو د ډبې میاوو هغه به هم بمبه ټوپک ګرځاوه او تل به د غزا په میدان کې حاضر وو"

د شونکرۍ ملا ته هرچا ویلی زه کم بخته !!

هره ورځ چغې وهي مونږ ه په عذاب کړے او پرنګي د ټینګي نه وي په منډه زغلي !!

ملا بیا غږ کړو چه راشئ تماشا وکړئ دا هغه نوږ پرنګي نه دي دادي فوځونه راغلل او ټوله کړ په خوزیګي !!

زه هم پخپله پناه ګاه کښې د څملاؤ ستو په تکل ناست وم ، وازګټ مي هم ایښې وو زما په وازګټ کي یو اتیا سپیني روپۍ هم پرتي وے په هغه وخت کي نوټونه نه وو او ایله به سړي اتیا سل روپۍ دځان سره ګرځولی شوے .

زما ملا بند او غاړه کۍ دواړه بنه ډک وو ، دغزا شوق وو ځواني وه دجنګ میدان سره زمونږه ډیره مینه او علاقه وه ما خپل ملګري امیر محمد چه زمونږ نوکر وه ته وویل چه راځه ورشو او د شونکرۍ ملا دځاے نه دفوځ تماشا وکړو امیر محمد هم نرغازي او توریالی سړے وو هغه هم ویلی بنه ده کنه ! راځه بسم الله ده .

مونږ دواړه روان شو ما خپله یوه غاړه کۍ او خپل وازګټ په ځاے پریښوده ځکه چه زمونږ باور وو چه پرنګي ماتي کوي

او مونږ به بيا بيرته خپلو مورچو ته راځو . په دغه ورځ مونږ ډېر خوشحاله هم وو ځکه چه فهيم جان د کوډا خيلو نه دوباره يو بار وره راوړې وو او دوه وزى هم د حلالى د پاره راوستلى وى چه چا خيراتى غازيانو ته راليګلى وے او مونږ ويلى چه دا د جاژولو د بمبارۍ وخت چه تيرشى نو مونږ به دا وزے حلالوو او په مزه خيته به شوروا او ډوډۍ خورو خو هغه پروګرام پاتى شو او فوځ راغى وره په بوروکى او وزے د پلوسى په ونه پورے تړلى پاتى شوى .

زه او امير محمد چه غږ ته ور وختلو څه ګورو چه ټوله لوره ژوره يو شانى خوزيږى او فوځ د ميح ميږ وپشان مخکى رارووان دے . مونږ خوډيل ونکړو درے واړه زه او امير محمد او د شونکرۍ ملا ور کوز شو او مخى له ورغلو او ملګرو ته موغږ وکړو چه ځانانو دادے فوځ راورسيد هغوى هم رارووان شو او په منډه ور نږغاستو خو فوځ هم صرفه نه کوله په مونږه ئې د ګولو باران جوړ کړے وو او ګولى د لکه د باران څاڅکى وريدلى .

د ډنډ نه ورکوز يو ورسک له چه د پليون يو بوټى يکښى ولاړ

دی نژدے د فوځ مخی له ورغلو د فوځ په مخکښې د ستنه کی جنگی موټر را روان وو او زموږ نه مخکښې د ډله خواته تیر شوے وو ۔ موږ د جنگی موټر څه لیدلی وو ! موږ گمان کاوه چه دا کوم ټرک لاری ده او که خیروی دا خو موږ ولجه کړو ! موږ ئی کوزه مخه ونیوله چه بیرته ونه تښتی او ډزے موپرے شروع کړے په دے کی زموږ ډله چه زما غازی پلار حاجی میاجان خان او زما ماما حاجی مسعود خان او حاجی زرور خان ئی په سر کی را روان وو د غره سرته را وختله او زموږ حال ئی چه ولید سم راپسی راغلل په دے کی د وتمانزو غازیانو یوه وړه دلگی هم موږ ته راورسیده چه مشر ئی د وتمانزو صاحب حق وو او بل ورسره سرکاری خان نومی یو غازی وو او یو بل ملگری ئی هم وو ۔

صاحب حق صاحب غږ کړو چه دا دے راغلو کنه !

او رشتیا چه موږ هم پرے ډاډه شو ! موږ هم شاباسی ورکړو ۔ او سرکاری خان خو د واره موټر ته ورمخکی شو او په یوه لوړ ورته ودرید او نور ئی په ډزے وکړلی نور د کارطوس کسی وو او صرف ئی کوله او په گټو ویشتلو ئی لاس

پورے کړو .

سنه می یادیږی چه د موټر سر راوخرخید او یو سوړے راښکاره شو ، د سرکاری خان په لاس کی گټه وه او د گذار په حال کی ښنپه ارتی ولاړ وو چه ماشیندار په ړے فیرنگ شروع کړو او دغه نر غازی په هم دغه حال کی دوه نیمه راولویدے او موږ پوه شو چه دا خولاوری نه ده او څه بل د اور بچی دی ! موږ لږ په شا شو ، صاحب حق صاحب ویلی چه سرکاری خان پاتی شو! ما ویلی چه لاتللی خو نه یو جگړه ده گوو به ئی که خیر وی !!
د فوځ هم ډیر زور راغی او زموږ ډله هم ټوله راورسیدله او په سخته جگړه ئی لاس پورے کړو .

زموږ ډلی رشتیا خبره ده چه ډیر مقاومت وکړو د صبا د شپږو(۶) بجو نه واخله تر لوړ مازیگر څلورو(۴) بجو پورے جگړه او لاس پلاس جنگ روان وو ؛ زموږ ترشا د غره په سر کی ملک محمدامین خان کوډاخیل او ملک نوروز خان اتمرخیل او د هغوی ډلی پرتی وی - توپچی په هغوی سخته بمباری کوله چه ملک محمدامین خان پکښی لږ څه زخمی شوے هم وو او دولت نومی کوډاخیل هم لږ څه معمولی زخمی وو ،

KITABOONA BLOGSPOT.COM

دپرنګيانو لښکر تيت ولاړ وو او مخکښې نښور اتللی او غر

راغه سمه غر يو ډز وو ـ چا د خپل ټوپک ډز نشو اوريدلی

رشتيا خبره داده چه دا ډير سخت ساعت وو د جنګ خبرې

خوږې وي خو ساعت ئې تريخ وي .

زمونږ په ښي اړخ د ډنډ د پاسه نمرخاته ته د

عيسی خيلو غازيانو ډله وه چه ښه مقاومت او مدافعت ئې

کاوه په هغه سپينو ګټونو کی ئې مورچه نيولی وه او چه فوځيان

به وړاختل نو هغوی به ورته د خپلی توری برېښ ور وښود

او بيرته به ئې رامات کړه او مونږ ه به ښه ليدل چه څو

واری د فوځ هجوم او تعرض رامات شو او ښکته به په منډه

راوتښتيدل ، خو بيا به ورته افسر حکم ورکړه او بيا به

وروختل اخر په دغه سنګرکی ملک خيرجان د ملک حليم کاکا

ځوی زخمی شو ښه په ئې ماته شوه غازيانو هغه پوره کړه

او مورچه ئې خوشی پاتی شوه او فوځيان وړوختل او مورچه

ئې لاندې کړه او زمونږ ه ښی اړخ فوځ ته په ډاګه شو

او نور د پناه ځای نه وو مخامخ هم فوځ وو او د واړو

خواو ته هم فوځ راغی او مخکښې هم ډنډونو ته تير شو

KITAB BOONA
LOGSPOT.COM

مونږه په ګیره کې راغلو - زمونږ قوة الظهر خو ملک محمد امین خان او لنوروزکاکا وو هغه زخمي شوی او تللی وو او ملک نوروز خان کاکا هم پاڅید او غږئې وکړو چه ځوانانو پړنګیان ډنډونونه ورسیدل او مونږه سره کارطوس نشته او هیڅ هم نشو کولی دادے لاړو تاسو ته خبر درکوو چه ځان بچ کړې !!

هوائي جاز هم سخته بمباري کوله او نور زمونږ د مقاومت قوه هم نوه پاتې او مازیګر قضاد پنډ یالې پلو په کنډو ورو ښتو او ځانونه مو په ځنګ کړه زمونږ په ډله کې محمد سید مُلا په لاس ولګید او لاس ئې مات او زخمي شو او ډیرے وینې ئې کولې او ماته ئې غږ کړو چه فلا نیه پاتې شوم . زه ورپسې بیرته ورګرځیدم او زما ماما حاجي مسعود خان چه یو تکړه غازي وو راته پاس ولاړ وو . زه ورغلم او د محمد سید ملا لاس مې د ټوپک په دستمال وتاړه او ټوپک ما ترے واخیست او دے په منډه شو چه ما کتل بیا په کنډو او ښتي وو ؛

فوځیان راغلل او زمونږ د وسیدانې په مورچوئې قبضه وکړله ما ښام تیاره شوه او هرچا خپل شهیدان او زخمیان را واخیستل ،

او زمونږه د وړو لوبو ، هغه دوه ورځې او زما وازګټ
او غاړه کې په ځاے پاته شو سبه ورود محمد عمر ګوډ کړم خيل
هم د کارطوسو ځولۍ پاتې وه او هغه ځولۍ کله پرېښودله ؛
او ما ته ئې وېلي چه تاسې راته کينئ او امير محمد راسره وليګه
زه ورځم او دغه سامانونه راوړم امير محمد ورسره لاړ هغو
پکټونو او فوځيانو ته څه ګټې مټې وړ واچولې او هغوی په
شلکونه وکړه اولږ روسته چه هغوی په قرار شو دوی ورکوز
شو او هغه ټول سامانونه ئې راوړل او ورځې هم راوستلې !!
مونږه او نور غازيان وږې تږې په بد حال د پنډيالۍ پلوبه
لوړه تياره کې سره وهلې بروهلې روان شو په لارکې پاچا ګل صاحب
هم راسره ملګرے شو هغه سره د خپل ورور فضل شاه غم وو
او تپوسونه ئې کول چه فضل شاه څه شو ؟ !!

مونږ ورته وېلي چه مونږه هغه نه دے ليدلی (پاچا ګل صاحب
د مجاهد حاجي صاحب ترنګزو مشر ځوے او سبه مجاهد او لوی
شخصيت وو ) خو فضل شاه په شمالي خوا وو ضرور به پنډيالۍ
ته اوښتی وی هغه لږ ډاډه شو ، په هم دغه حال کې د ماسره
يو څو داني چهنۍ وسے هغه مې خولی ته واچولې د پاچا ګل صاحب

هم پام شو او ماته ویلي څه دي ؟ ما ویلي څو داني چهنې دي۔ هغه ویلي که وی خو یو څو داني ماته هم راکړه کنه !! زه هم ډیر وږی یم ! ورځ لهره تیره وه ما هم یو څو داني ورکړے او روان وو - د پنډیالۍ نه تیر شو او صبا ماښځه وختله کمالي ته ورغلو او هلته موڅه دمه وکړه او هغه دوه ورځې چه راسره وی هغه هم هغلته موحلالي کړے او مونږ ه او لوړو غازیانو خلکو وخوړلي داد شنبې ورځ او داسد(۳۰) نیټه وه د یکشنبي په شپه اول سنبله او ورځ هم مونږ ه په کمالي کې پاتې شو او چا خبر راوړ چه د ګنداو حلیمزي د پرنګي سره وران شوي دي او جګړه ورسره کوي او کمک ئې غوښتي دي لښکر په دغه خبر ډیر خوشحاله شو او د حلیمزو کمک ته د تختی کنډ و په لار روان شو او ګنداو ته چه ور واړیدل بل خبر راغی او ویلي چه دغه مخکښني خبر حقیقت نلری او د پرنګي فوځونه راغلل او د غلنۍ پخواني کمپ ئې ونیو نو لښکر بیرته د تختي کنډو دساتني د پاره چه ډیر مهم ستراتژیک اهمیت ئې لره راواپس شو. زمونږ ه ډلي هغه ورځ او شپه د ګنداو په وچه جوړکي تیره کړه او د پوس خان ملک په ځائے کې وو هغه زمونږ

بنه دار مدار وکړو ۰

رشتیا چه هلته ډیره ویره او خطر وو خو مونږ ه دخلکو دډاډنی دپاره هلته ځان ټینګ کړو او ډیل شو !! د سه شنبې په ورځ ۳ سنبله مونږ بیرته دنختی کلی ته راغلو ورځ هلته تیره نشوه ،

دچهار شنبې شپې ۴ سنبله مونږه دنختي کنډو دساتنې دپاره غره ته ور وختلو او صبا ورځ هم له دے امله چه دفوځ دراتللو ویره وه هلته پاتې شو بله ورځ دا فیصله وشوه چه دنختي کنډو به پاچا ګل صاحب او دموسی خیلو صافو شینوارو لښکرے ساتي - او مونږه عثمان خیل به دخایبن کنډو دساتنې دپاره ورځو - محاذونه سره ویش او تقسیم شو او دپنجشنبې په شپه ۵ سنبله زمونږه ډله دخایبن نه لاندے دلورے تیګی کلی ته ور ورسیده صبائی وختی انګریزی فوځ حرکات کړی وو او مخکښې راغلی وو - اسمان وریځ وو او هوا بنه وه غازیان هم دخپلو مورچو نه پسی ور ووتل دپرنګی دفوځ مخکینۍ دسته دزره دارو جنګی موټرو وه دلږ شه جنګ جګړې نه پس فوځ ماتې وکړه او بیرته په شا لاړو غازیانو یو شه پوځکونه

کارطوس او د ماشیندارو جاغورونه ترے ولجه کړل او یو تن عیسی خیل غازی زخمی شو او د فوځ نه لږ وډیر شپږ تنه فوځیان مړه شو ،

دجمعی ورځ ۶ سنبله قراری وه او د دواړو خواو نه هیڅ حرکات اجرا نه شو او نه په دواړو محاذونو ځکه تخنیکي او خاپسږ دهوائی جازونو نه څه بمباری وشوه ، ورځ په خیر په قراره تیره شوه ؛

زمونږ لښکر او څه نور دیوبل ځاے غازیان دجګړے دپاره د سلطان خیلو سرته ور وختلو خود انګریز فوځ دخپل کمپ نه حرکت ونکړلو او دواړه خواوی په خپلو خپلو مورچو کی پاتی وو د شنبی په ورځ ۷ سنبله هم قراری وه یوانځی د موسی خیلو جرګه پرنګیانو کمپ ته غوښتی وه او هغه ورغله په موسی خیلو کی ځینی مواجب خوارهم وو د هغوی دجرګی کولو میلان وو۔

د یکشنبی او دوشنبی ۸-۹ سنبله په ورځوکی هم قراری وه او د دواړو خواو په یو بل څه تعرض ونکړلو ؛ صرف د دوشنبی په ورځ ۱۰ سنبله دحلیمزو ملکانو د انګریز منصبدارانو

ته میلستیا کړے وه او هغه ورته راغلی وو ،

د سه شنبې په شپه ۱۱ سنبله د پرنګی لښکر د شپې راغلی وو او چپاو ئې کړے وو او مونږ ته لا د ماښامه نه خبر راغلی وو چه ستاسي په مورچه مخصوصه بمباری کیږی او ستاسي ځاے په لښه شوے دے ځانونه تر ے بچ کړه (دا خبر حمید خان راوړے وو) مونږ د شپې د خپلې مورچې نه ووتلو او د تورے تیګی نه پاس مورچو او غرونو کی موځان سره پټ کړو -

رمونږه مورچې ته چه یوه وړه غونډ ے کنډه ګی وه چه زمونږ نه وزګاره شوے وه لو د لښکر کلی غازیان ورته راغلی وو - صبا د غانځه په وخت خره کی سم جازونه را ورسیدل او سخته بمباری ئې شروع کړه - د لښکر کلی د غازیانو نه یو د لښکر کلی مُلا شهید شو او څه پاس د غره په ډډه ګورګوروکی د اتم کلی فیض جان ملا چه یو ښه تکړه غازی وو د جاز په ګولۍ ولګید او شهید شو - او یو بل تن عیسی خیل غازی هم شهید شو او یو تن مسافر سواتی غازی زخمی او یو تن د فقیر صاحب علینګار شیخ او یو تن لټو خیل او یو تن دوړ خیل د عمرا خان ځوی شهیدان او د بابا

پاچا یو نفر هم زخمي شولو؛

ښه مې یاد دي چې زه د خپلو ملګرو سره د تورې تیګۍ د پاسه په مورچه کې ناست وم چې بمباري ونښتله او یو قیامت جوړ شو په دې دړزو دړزو کې فوځ لوړ هم را مخکښې شو او د خورم چینې د پاسه مورچل ته سپایان قطار را وختل او ښکاره په ډاګه ولاړ وو ما چې دا منظر ولیدو په سترګو کې تېپه تیاره شوه او پښتنۍ غیرت مې را ولټید او ملګرو ته مې وویل چې د دې سپایانو مقابلې له خو ورتلل پکار دي!!

خو هیڅ هم غږ ونکړو، زما په خوا کې ملال کاکا او لږ د پاسه ترې زما ماما حاجي مسعود خان چې یو ښه تکړه غازي وو ناست وو هغوی هم ویلې چې په دې قیامت کې به څوک ځنګه وخوزیږي او رښتیا چې ډیره بده ورځ هم وه؛

د زمکې مخ په بل ډول ښکاریده - ما یو وار ځان قابو نکړې شو او لکه دلیونی ور پاڅیدم او منډه مې کړه - زما ګمان وو چې ملګري به په ما پسې راشي او ما به یواځې نه پرېږدي خو بده ورځ وه زما دې حرکت ته د چا ډو پام هم نشو؛

او زه په منډه د سپایانو د مورچې خواته ور روان وم د تورې تیګۍ

د بیکی خیلو د کلی نه چه ابن ورتیر شوم مخلی یوه کنده گی راغله چه گورم دیکښې یو بل غازی هم راروان دے چه ورته سبه زیر شوم د لښکرکلی گل باز دے چه یوه سبه تکړه غازی وو. ماپرے غږ وکړو چه راغلی ځوانه!

هغه وویل هو! تاکله یواځې پریدم ماچه ورته وکتل نوجاپانی لس دړزے ټوپک ورسره وو او هغه لښ بی انباره غورند ے وو ما ویلی ټوپک دے ښنگه دے؟

نه می هیریږی چه هغه وویل:

ښار دے ښامار! پروا مه کوه د بندیدو نه دے!!

مونږ دواړه زغرد وروان یو چه د غونډی بیخ له ورغلو څه گورو چه زمونږ نه هم یو دپیتی ټوپک خاوند غازی ور مخکښې شوے دے اونیغ ور وختلو او مورچې له نژدے ورغی او د ډیرے نژدے فاصلی نه ئی ټوپک ورپورته کړو او چه ډزشو دوړه ئې په سپایانو ورخوره شو - دغه ډز وو او سپایانو منډه اوترپ وو - په یوه منډه سپایان په ښکته کوزشو -

مونږ په هغه غازی چه هیڅ می نه پیژانده منت وکړو

چه نیک بخته موږ ه ځان مړکړو او ډیر لړے نه په دے سپایانو پسی راغلو او تا هغه زموږ نه وران کړل ، هغه په ډیره ډاډه لهجه وویل چه :

دد ے خولواڅي زه بس وم تاسی ځله تکلیف کولو زما ډز او ددوی ترپ سم وو !! لاړه وتښتیدل ؛

موږ ه هم مورچی ته ور ورسیدلو - چه گورو لاندے د جوړ سره سپایان په شاگۍ کښی مړه دی وهی موږه پرے چه یو دوه دوه ډزه کول ،

لاندے دجوړ په خواکی یو جنگی موټر ولاړ وو او په موږ ه ئی دگولو باران جوړ کړو او سور اور ئی ساز کړو موږه ترے ځان راپنا کړو -

او کارطوس او قولی مولی او یو پیچ تاب او نور مات گوډ شیان مو ولجه کړل -

لاندے په سمه لاره دعیسی خیلو یو څو تنه غازیان راغلل او د ادیری سره دعیسی خیلو قبیس ملا یو صندوق کارطوس وموندل او ولجه ئی کړل -

په دغه جگړه کی انگریزی فوځ ډیر درانه تلفات ولیدل

او ډیره مرګ ژوبله پکښې وشوه چه د مړو ډیری ډولې پله پسې زغلیدلې - او د غازیانو نه هم څوتنه چه مخکښې یاد شو زخمي او شهیدان شوي وو ؛

د چهارشنبې په ورځ ۱۲ سنبله انګریزي فوځ حرکات وکړل او د غلنۍ نه ایله ترارتهونو او خوجه وزکوړونو پورې راغلل او دلږې جنګ جګړې نه پس بیرته خپل کمپ ته وګرځیدل .

د پنجشنبې ورځ ۱۳ سنبله قراري وه -

د جمعې په ورځ ۱۴ سنبله د پرنګیانو فوځ بیا حرکت وکړو او د ارتهونو د پاسه ئې پیکټونه او مورچې جوړې کړې او مونږه هم د خورم چینې د پاسه سرته ور وختلو او ډزو دوزم پرې وکړو - انګریزي فوځ په هم دغه ورځ د پیکټونو د پاره د وبو نلونه راوغزول او مونږ هم پرې بریډ وکړو او جګړه بنه لوده شوه - توپچې سخته بمباري کوله اوبیو قیامت ئې جوړکړې وو ،

ماښام شو او د پرنګي لښکر بیرته په شا لاړ .

دشنبې په شپه ۱۵ سنبله زمونږ ډله دشپې ورپسې

ورغلو او فوځیانو غزولی نلونه موټول تړے راپه وبڼه کړه اورا موړل ـ

ښه می یادیږی چه ورغلو هرڅو د ۸ زورونه مو چه کول نل نه پریکیده او هونږه حیرېن شو چه څه وکړو ؟ زما فکرته دا راغله چه راځه دلاړ ے نه خوئی لښ په ډډه کړو چه صباله پرنگیانو پوهیږی چه غازیان خوراغلی دی نلونه ډیر ټینگ تړلی شوی وو او د هونږ سره څه سامان نه وو چه نلونه هوپرے پرانستی وے ؛

د نلونو لین چه مونږه لښ څه بی لاړے کړو لنو د منځ نه رابیل شو او خلکو چل زده کړو هرچا به چه وینو اولښ به ئی بی لاړے کړو نل به راوختلو دوه دوه تنه سره ملگری شو او دوه دوه نلونه ئی راپه وبڼه کړه اوتوری تیگی ته مو راوړل ،

دیکشنبی په ورځ ۱۲ سنبله په لوړه تیگه د مومندو قامونو یوه جرگه وشوه او هرچا ته د مورچلونو د ټینگولو تاکید پکښی وشو !!

صباله د کل په ورځ ۱۷ سنبله جنگ ولښت او

د پرنگیانو لښکر د غځی پلو مخه وکړه او حرکات اقدامات او تعرض ئې وکړو ۔

او د یوسف خیلو زاړه کمپ ته ئې را تلل غوښتل خو غازیانو سخت مقاومت او مدافعت وکړلو او فوځ په مخکښې تر کښې بریالی نه شو !!

او ماتې وکړله او بیرته زاړه د غلئي کمپ ته ټول فوځ وګرځیدل په دغه ورځ زمونږه ډله مخکښې ورغلو او د ناڅاپۍ نه ور د پاسه چه فوځ مخکښې راغلي وو هغوی ته ورننږد ے شو او د غلجي ملک د کاله نه د پاسه مورچے له ورغلو مونږه چه ور وختلو د فوځیانو مورچه ډیره نږدے وه چه مونږ سرونه ورښکاره کړه هغوی په ځو ناست وو او فیرنګ ئې شروع کړو ۔ د لمړي بارسره زمونږه ډلی نه ملک یارګل خان کرم خیل کوډا خیل په سر ولګید او ډیر سخت زخمی شو ماسره ځنګ په ځنګ ناست وو او راولوید ۔ ساخوا پکښې وه خوزما پلار امر وکړو چه دا سرے پورته کول غواړي هسی نه چه پاتې شي ؛

مونږ په یو ځادر کښې واچاوه هغه د غرۀ قدر دروند

سرے وو او مونږ څوتنو په وړو وړو ډلو کړو او په یو منډه روان وو او د شانه راپسی د ګولو باران وریده !!

زخمی موایله په خوارو د محمد حسن کاله ته راورساوه په دغه جګړه کی ئی د مونږه سره د لا لپورے غازیان چه مشرئی حاجی شیخ عبدالرسول یو لومیالی غازی وو کوله او د مونږه سره ئی کمک او مرسته وکړله .

غازی یارګل خان زخمی چه مونږه بیکی کاله کلی ته راورساوه نو ساه ئی ورکړه - د سر سخته ساوی خوخبرے ئی نشوی کولی ، دا بختور غازی هم دغلته شهید شو !

د دغه جګړے په نتیجه کی انګریزی فوځ څه ناوخته ماتی وکړه او بیرته کمپ ته لاړو او ډیره مرګ ژوبله پکښی شوے وه ـ

د غازیانو نه یارګل خان کدا خیل شهید او دوه تنه نور یابازی او اته تنه و تمانزی او دویزی اویوتن د خویزو ملا شهیدان شو ـ

مونږه د یارګل خان جنازه کورته راوړه او هغه ښخ شو د چهارشنبی د شپی ۱۹ سنبله پورے مونږه په کورکی وو

او ددغه ورځې په مانېگر محاذ ته بیا ور روان شو - د پنجشنبې په ورځ ۲۰ سنبله خامبیک کاله ته ورغلو د هغه ځای نه مو صبا وختي حرکت وکړو او د لورې تیگي مورچې نه ورغلو - د جمعې په ماښام ۲۱ سنبله د شنبې په شپه په انگریزي کمپ غازیانو حمله وکړه او فوځ ته غازیانو ډیر تاوان ورساوه صبا د شنبې په ورځ ۲۲ سنبله انگریزي فوځ د شپې حرکات کړي وو او سلطان خیلو ته مخکښې راغلي وو !!

غازیان هم ور مخکښې شو او سخته جگړه جوړه شوه ، توپچي ډیره سخته بمباري کوله - خو غازیانو ته دومره تلفات نه وو نه رسیدل ؛

د هوائي جاز نه په دغه ورځ یوتن اتمرخیل د وتکي وسید وتکي او یوتن بابازي زخمیان شو ،

په ۲۵ سنبله ۱۹۳۵ کال د پرنگي هوائي جازونو په گداي تنگي او ځنا ورچینه بمباري وکړله او اعلانونه ئې خواره کړه چه گورنر پکښې څه فرمائي نصیحتونه کړي وو ویلي وو چه د مومندو لښکري دې د جنگ جگړې نه لاس واخلي او که نه وي نود مومندو په ټوله علاقه به سختي بمباري

وشي .!!

ورپسې صباله بلا علان وشو چه په بهائي ډاګ ، کونګ ، او خامبیک کورونو رامالي باندے به بمبارۍ کیږي او خلک دے خپل کلي خوشي کړي ؛

په دغه ورځ ۲۲ سنبله زه او زما دتره شهید عمرخان ځوی محمد عوض خان چه یوسنه تکړه غازي وو ډکي ته په دې غرض لاړو چه د افغانستان دحکومت سره خبر واخلو چه په مومند و ډیره سخته ده او څه کمک کول پکاردي ـ

د چهارشنبې په ورځ ۲۷ سنبله ښاغلي فیض محمدخان ذکریا د افغانستان خارجه وزیر چه یو سنه پوه عالم متدین مسلمان سړے وو ډکي ته راغې او د مونږه سره ئې خبرے وکړې او هدایت ئې راکړو چه تاسې لاړشي او زما په نماینده ګۍ دلغان لالا پاچا صاحب او د لالپورے ملک ولي محمد خان درسره بوځي چه د مومند و مشرانو ته زما پیغام ورسوي او د مومند جرګه د خبر واترو دپاره ډکي ته راشي !! چه خبرے ورسره وکړو د افغانستان حکومت د انګریز دسفیر سره په سفارتي سطحه خبرے اترے کړې دي چه هغه عملي شي

په هم دغه دچهارشنبې په شپه ۲۷ سنبله دپرنګیانو لښکر راغلی وو اود نحقي کنډ وئ نیولی وو او پاچاګل صاحب ترے تللی وو او ځائے معلوم نه وو چه څه شو ؟!!

مونږ دچهارشنبې په غاړپښین دلالپورې نه دلالا پاچاصاحب او ملک ولی محمد خان سره روان شو - زمونږ دکلی کنډو ته چه ماښام قضا ورسید ولو دوړو زیږو ماتی په مخه راغله او ویلی چه پرنګیان راغلل اوخلکو کورونه خالی کړل او لاړه غرونو ته وختل -

د وړو زیږو شور ماشور وو او چنګ چونګ وو - مونږ هم وارخطا شو چه میلمانه راسره دی او اوس به په کورکښې څه حال وی او څه چل به کیږی ؟

میلمانه هم ډیر خفه او وارخطا شو ، پاچا صاحب خو ویلی چه ښه دے دا قچرے خو راسره شته دی ستاسی واړه خو به یو ځائے ته پرے ورسی -

خو چه مونږ ه کورته راغلو زمونږ واړه او زیږه په کورکی وو ځکه چه زما پلار زمونږ نوکر محمد عظیم په مندا ضغیم مشهو رالیګلی وو او امرئی کړے وو چه تاسی یه خپل کورکلی نه پریدی

ترڅو چه تول ورپکښې شهیدان شي او غوټي ښځې دے صباله وسله والو خلو او په سمه لار دے محاذ ته راشي چه خلک ئې وګوري او د مات شوي لښکر څه زړه را ډاډشي مونږه به ورنه د دشمن د روز په ځاے کې کلي خالي کړو !!

او همد غسې وشوه زمونږه میند وخوبیندو صباله محاذ ته حرکت وکړو .

مونږه چه د پنجشنبې په شپه چه مونږه د کوډاخیلوخیل کلي ته راغلو د پاچا صاحب غاښ درد کاوه او خوښیده ښه وو ډوډی چلے تیار شو او میلمنو څه چلے ډوډی وخوړله او مونږ د پاچاګل صاحب په لټه کې شو اخرچا ملک ولي محمد خان ته خبر راوړو چه پاچاګل صاحب د ملک امین خان په کور کې پټ ناست دے - ملک ولي محمد خان ورپسې ورغی او پاچاګل صاحب ئې د هغه ځایه نه زمونږ ځاے ته راوستلو -

په دغه ورځ غرمه میلمنو پاچا صاحب او ملک ولي محمد خان او پاچاګل صاحب زمونږ په ځاے کې ډوډی وخوړه او غاز پسښین مونږه په ګډه حرکت وکړو چه د مومندو د جرګې سره د میاګانو په کورونو کې وګورو او خبری سره وکړو مونږ مازیګر

ور ورسیدلو خو سبه ووچه جرگه غونډه وه او په خلکو ډیر
بدحال وو او بله ورځ وه د بختي ملتي د غازیانو ملا ماته کړې
وه او په چاکي دم نه وو -

پاچالاو خلکوته د خارجه وزیر صاحب پیغام ور ورساوه
او جرګي په دې فیصله وکړه چه د مومندو یو نماینده جرګه
دې ډکي ته د خبرواترو د پاره ورشي -

هم ددغه جرګي د فیصلي په اثر یوه د مشرانو جرګه ډکي
ته ور روانه شوه اوزه سره د خپلو ملګرو سره د ملک شمند روز
ځاې ته ورغلو - زمونږ مینډے خویندے هم هلته وې
او دوي چه د غزا د پاره میدان ته راغلي وے نو زمونږ د میندو
ورتلل محاذ ته په خلکو کي ملي جوش او پښتني غیرت بیا راژوندي
کړے وو او د خلکو حوصله دومره راپورته شوے وه چه
حدې نه وو او غازیان دومره په غیرت کي راغلي وو چه ویلي به
مونږه میدان پریږدو او دادے ښځي میدان ته راغلي د دینه خو
مرګ زر وارے بهتر دے او هرچا خپلو خپلو مورچو ته ځان
ورساوه - مونږه خوشبه د ملک شمند روز خان په ځاے
کي وکړه - او بله ورځ ځنا ورچیني ته ورغلو او د ځنا ورچیني

د سر د څوکې وارهم زموږ ه وو ،

ښه مې په یاد دي چه موږ غړ ته د ختلو په نیت او دخپلې وظیفې د اجرا کولو د پاره ور روان وو په لاره کې د خوګا خیلو د ملک حبیب ماما دوی ډله وه - په هغو مو سلام واچاوه هغوی وعلیکم ووېیلو او حبیب ماما پوښتنه وکړه او وې ویلې چه خوریه ! چرته روان یاستې ؟!

ماورته ویلې چه ماما !

دڅوکې وارم دے اوغرته ورځیږو -

حبیب ماماو خندل او وې ویلې چه :-

ګوره داپرنګي ډیرنا قراره شوے دے چرته به ئې حمله کړی وي او ته به چغې وهې چه ای مسلمانانو کمک له راشئ !!

نو پوه شه چه دمسلمان په غږ دے نه یم سم غږ کوه چه ای حبیبه کمک له راشه -

خلکو او موږ ه ټولو وخندل . هغه ویلې چه ګوره جنګ کول سخته خبره ده او څوک چه جنګ له ورځي زمانوم ئې چرواخیست نو د شرم نه به هم کمک له ورځم .

موږ ه لاړو او دڅوکې وارم تیر کړو .

د پنجشنبې په ورځ ۳ میزان ۱۹۲۵ عیسوی کال زما پلار
دپلومی په لار ځان محاذ او انِ سنگرته را ورساوه او د خارجه
وزیر صاحب سره خبرې خلاصې شوې وې هغه خلکو ته ډاډ
ورکړې وو چه مونږه د انگریز سفیر سره خبرې کړې دی او
هغه وعده راکړې ده چه مونږه به لښکرې د گندا او مومند
د علاقې نه واپس کوو ؛

خو تاسې هم جگړه بس کړئ !!

خو پرنگی په خپل لوظ چرته ودریده - د افغانستان خارجه وزیر
خو خلک ډاډ کړو او غافل هم شو او په محاذکی لږ خلک او
غازیان پاتې وو په دې کی پرنگیانو ته مخبرانو خبر ورکړې وو
چه هم دا موقع ده ،

د جمعې په شپه ۴ میزان د ځنا ورچینې په سر مورچه
کی زمونږ د ډلی کوډا خیلو د څوکۍ وار وو او زما د ورو حاجی
جعفرخان په مشرۍ کی ایله شپږ تنه غازیان د مورچی د ساتنې
د پاره ورغلی او ختلی وو ! ځکه چه څوک نه وو !!
پرنگی د مردان چاوڼۍ نه د گائیډ مشهوره پلټن چه په عصری
وسلو مجهزه وه راغوښتلې وه او د ځنا ورچینې په سر ئې حمله

وکړه - دا فوځ ډیر مجهز او مسلح وو په وسلو بنه بار وو او دهر سپاهی سره دلاس بجلی او یوه یوه همساوه او په بنپو ئی شپلی وی !!

په څولوکی ورسره یخ کړی الوګان چهنی او ګوره وه او د هیڅ شی کمی هم ورسره نه وو !

او زما پلار ماښام د ځناور چینی کلی ته رارسیدلی وو او هلته په یوه قلعه کی وو. یوڅو تنه د کنړ د پښد غازیان په کمپ باندے د ډز وکولو د پاره ورغلی وو ډزے ئی چه کړی وی او بیرته راتلل نو حلیم زوخا صه دارو چه لکه مخکښی ویلی شوی دی چه خاصه دارو به د غازیانو سره غرض نه کاوه او لا کمک او مدد به ئی ورسره کاوه ؛ دغه داړه مارو غازیانو ته وویل چه دادسر د څوکی غازیان خبر کړی چه ځانونه بچ کړی او فوځ درغی او سر نیسی !!

هغه کسنړی غازیان چه غره ته راوختل نو دولی یو غازی پاینده خان نومی هم ورسره وو چه هغه به په مورچو کی په غازیانو وبه ګرځولی او یخ (چځ) به ورسره تل دوبو ډک وو. هغوی جعفر خان ته غږ وکړو چه هلکه دادے فوځ راغی او په مونږ

پسی سم راروان دی . داکرپه هار به تاسی هم اوری - نوځانونه
بچ کړی چه تلف نه شی !! او مورچه پرېیدی !!

جعفرخان ورته وویلی چه کوم وران خو مورچه پرېښودل
خویو پلو نامردی او بل پلو ډیره بدنامی او د قوم ملامتی ده -
تاسی دومره مهربانی وکړی چه لاندې لاړ شی لوپه کلی کی زما پلار
حاجی میاجان خان کوډاخیل دی هغه خبر کړی چه فوځ راغی نو
هغه به یا مونږ ته کمک راکړی او یا خو به د قوم په صلا مونږ
وغواړی چه په ډوه شو او سنګر خوشی شی !!

هغه غازیان چه راغلی وو لږ سم دلاسه ورغلی وو او
زمونږ پلار حاجی میاجان خان ته ئی خبر ورکړی وو چه فوځ
راوخوت یا جعفرخان له کمک ورکړه او یا خبر ورکړی چه مورچه
خوشی کړی او هسی ځان تلف نکړی ؛

حاجی صاحب ډیر متقی او پرهیزګار سحرخیز سړی وو هغه
د تهجد دپاره پاڅیدلی وو او دغازیانو دخبر سره ئی ملا وتړله او
دله ئی خبره او تیاره کړه او دستی راووت او د جوړ په غاړه ودرېد
او غږ ئی کړو چه :

ای غازیانو مسلمانانو !

را پاڅه د پرنګي فوځ راغی او سر ته را وخوت د اهغه ساعت دے چه تاسي به لګ ار مانونه کول - راځه چه ورشو او د دښمن مخه ونیسو ! - خو د مسلمانانو دغه حال دی هرچا ویلي چه دده ځوے دے او هغه د ډاډ دپاره اوس خلک ټولي !!

هیچا هم حرکت ونکړلو ،

زما د پلار سره هم صرف دولس تنه خپل ملګری وو ، او هغوی سمدلاسه غر ته ورو ختل او چه غره ته ورجګ شو نو جعفر خان ته لږ غږ وکړو چه دادی مونږ ه راغلو او وار مه خطاکوه هغوی هم ورته غږ وکړو چه تاسي خو راغلی ښه شو خو یاران هم دادی را ورسیدل او فوځ راغی !!

او ډیره ښکالو ده !!

په دے کی د صبا علامي وی او زما پلار ملا امام ته وویلي چه اذان وکړه چه لمونځ وکړو او هم خلک خبر شي !!

ملا اذان وکړو او سمدستي لږ څه وختي په غا نځه ودریدل ځکه چه په رڼاکی بیا د جازونو د بمبارئ ویره وه -

د نمانځه نه چه دوی وزګار شو نو غازیانو په ټپیل ټکولو پیل وکړو او زما پلار او فضل رحیم ملا او زمونږ یو همسایه ولس خان خویږے

چه یو سبنه تکړه غازی وو د غزه کندو څوکې ته ورروان شو ،
څنګه چه دوی کندو ته ورورسیدل د هغه پلوه سم فوځیان
چه د ماشیندارو د لګی وه او اکثره سکهان وو هم سم راوختل
او لاس په لاس شو -

حاجی صاحب په غزه کړو چه څوک یاستی ؟ !

هغوی غز ونه کړو - محمد غسی دوه دری غزه پرے
وکړو خو چا غز او ځواب ورنکړو هغه پوه شو چه فوځیان
دی او د واره ئی پرے بسم الله کړه او الله اکبر نعره ئی کړه
او ډزے پرے شروع کړے ؛

دا جنګ بلا تشبه د بدر د غزا بشان وو چه د ډیرو لږو
غازیانو د لاسه بی شماره کفار مړه او مات شو ، او بی شماره
وسلی توپک ماشیندار او تمانچی او کارطوس غازیانو ته
ولجه په لاس ورغلل او سپایان ژوندی هم و نیول شو -
لنړه ئی داده چه د دغه پلټن نه یو یادوه تنه که خلاص شوی
وی نو وی به خو نور ټول په ځائے دل شو -

خبره د غسی وه چه : سرته دراختلو یکی یوه لاروه او په
دغه لار به سړے راختلو او هم به بنکته کیدلو -

او د لارے په دواړو خواوکي لوی لوی گړنگونه او کمرے وے . سپایان چه په دغه لاره راتیر شوی وو لوڅه وخت چه د هغوی دوه تنه انگریز افسران چه یوی لفټننټ کرنل اوبل ئی کپتان وو په سرکی مړه شو نو فوځ بی سره او بی قوماندانه پاتی شو او ماتی ئی وکړه

غازیانو به چه یو ډز پرے وکړو نو لس کسه سپایان به لویدل . په اول کی سپایانو په برچو وهلو حمله وکړه د خدائے کار وو چه غازیان د اشائی قدرتی تقسیم شوی وو چه په یوه ډله به حمله راغله هغه به بلی ډلی ته ضرور ښکاریده او د شانه به ئی پرے د گولو باران جوړ کړو او هغه معترض فوځ به ئی ډیر زر ختم کړو په دغه شان د فوځ تعرض په ماتی بدل شو .

دیوتن انگریز افسر چه نوے لوړ دنگ زلمی وو - په یوه ډیره سخته لار دیوے گورگرے د بوټی په خوا کی د غره یو تاخ ته راختلی وو او پکښی ناست وو د هغه په خواکی یو سپاهی لگیدلی وو او ټوپک ئی پروت ښکاریده ،

زمونږه نوکر امیر محمد په دغه ټوپک پسی ورغی او ټوپک ئی

چه رابښکته نو دده ښپه په يوه مشکوړه دولو په لويني وښوئيدله او دی راولويد بيرته چه ورپاڅيده - نو انګريز افسر ورته په څو ناست وو او د ټوپک د رابښکلو سره هغه په امير محمد ډز وکړو او غازی امير محمد ر سا په سينه په ګولۍ ولګيد او زخمی شو -

منصبدار چه پسی سر راپورته کړو بل يو د غازی د غه انګريز سر سا په سر په ګولۍ وويشته او په ځای ولويد خو ښکته ګذار نشو دده سر هم ښکاريده او غاړه کی ئی چه تمانچه وه هغه هلته ولويده ،

ملا فضل رحيم په تمانچه پسې ورټوپ کړ جيبن شو چه تمانچه ئی رابښکله د هغی ريشمه د انګريز په غاړه کی پرته او کلکه وه انګريز هم ورسره رابښکلی شو -

په خوا کی ئی يو سپاهی ناست وو هغه په ډز وکړو او ملا فضل رحيم په خيټه ولګيد او شاته ئی ګولۍ ووته خو تمانچه ئی د انګريز د غاړې نه راوشکوله او په هم دغه حال کی ئی په خپله ځولی دننه کړه .

روسته غازيانو پرې د ګټو ګذار ولو شروع کړه او

سپاهیانو ته دلاس بمونه ورپه یاد شو او په غازیانو ئې د دغه
وسلې شروع وکړه -

محمد گل کوډا خیل او هیکل لوی د عجب خان کاکا سرې
زخمي او غازي غلی خان کرم خیل پکښې شهید شو - او دغه
جگړه په شمار ۸ اتنو وکړه او په دغه جگړه کې گلاجان د دولجان
ځوی خوگا خیل شهید او عمرجان د حمید الله خان ځوی اتمرخیل
پکښې زخمي شوی وو -

او د انگریزانو دغه نامتو پلټن گاشه بالکل ختمه شوه په
په دې کې لوی دمه غازیان هم راوختل او راورسیدل او په ولجو
ئې لاس پورې کړ او بې شماره ولجې هر غازي وکړلې - او ټوپک
کارطوس ماشیندار او تماچې غازیانو ته په لاس ورغلل ،
نو پخپله ناوخته ورورسیدم او سخته بمباري کیدله - دري
هوائي جازونه وو او توپچي خودا ټول غر په بل مخ واړاوه
په هر یو سړي یوفټ خاوره پرته وه او ډیرو غازیانو ټوپک
د خاورو لاندې نه راوویستل او ولجه ئې کړه لږ خر روسته
دغه فوځیان مړي بل رنگه شو ،

اتوخیلو ته ښکاره په یوناوکی نڼ دے دوه سوه نفر به پراته

KITABOONA BLOGSPOT.COM

وو چه مړه شوی وو -

بنی آدم چه مړشی اولس لمری هم ووهی بل شان شی
او بل شی تر ے جوړشی چه د سړے ویره تر ے کیږی ،
ژوندی سپایان ځو تنه پښتانه مسلمانان وو او دوه تنه
پکښی د راولپنډی سکهان وو ،

دا ډیر د فتحی اوبری جنګ وو او غازیانو بی شانه او بی
مثاله برے وموند او دا محض دلوی خدای غیبی امداد او
فضل وو او د غازی حاجی میا جان خان د توری او همت او میرانی
برکت وو ؛

د دو شنبی په ورځ ۷ میزان د حلیمزو جرګه د ملک میرجمال
ځاے ته راغله او د هغه مړو انګریزانو د سرولو چه غازیانو
پرے کړی او وړی وو او د مړو او ژوندو سپایانو د وړلو او
بیولو غوښتنه ئې کوله ؛

غازیانو ورته وویل چه ښه ده دغه سرونه او سپایان
مړه او ژوندی به درکړو او ستاسی جرګه منو خو په دی شرطونو
چه اول انګریزان به د مومندو علاقه خوشی کوی او بیرته
به ځی !

او دویم هغه څلورسوه صافي چه انګریزان نیولی دي هغه به هم راخوشي کوي !

(داکسان ئې په علاقه کې دننه نیولي وو په جنګ کې لږو )

جرګې دغه شرطونه ومنل او دپوره کولو وعده ئې وکړه اوغازیانو هم هغه سرونه او بندیان اومرې ورکړه ،

دغه دیوانګریز افسر سرخو مغل خان عیسی خیل پریکړے او وې وو ویلې چه ښځه مې راته تل وائې چه څه دپرنګی سر دې راوړې دې دا اورله وړم چه بیانه وائې ،

اوزما پلار په دے کار هغه ډیر ملامته هم کړو او ورته ویلی چه دا ځوان د زړونه میله لرے نړاغلی اوستاپه وطن کې په تا خان وژلی دے دده بې عزتي کول میړانه نه ده ،

دپرنګیانو هغه فرعوني اعلان چه ئې کړے وو چه :

زمونږ فوځونه به خامخا ننزلکړو د صافو دعلاقې پورے ځي او حکومت به دا کار کوي او تنزائې ویلې وو که چرګ بانګ کوي اوکنه صبا به راځي !!

د پرنګی دغه غرور او نشه د ګایډ پلټنی ماتې ورماته کړه او دچهارشنبې په ورځ ۹ میزان ۱۹۳۵ عیسوی کال او ۱۰ میزان

د پنجشنبې په ورځ کې د ګندا او په یوسف خیلو کې په فوځي کمپ کې ګورنر د مومندو د جرګې سره په هغه شرطونو چه مخکښې ورته وړاندې شوي وو لوظ او وعده وکړه او فیصله په دې شوه چه د مومندو لښکرې به خورې شي او انګریزان به تر پنځلسو ورځو پورې د مومندو د خاورې نه وځي ۔

په ۱۱ میزان د جمعې په ورځ دغه فیصله وشوه او د غازیانو لښکر راخور شو ۔

د خویزو په قوطي کې لښکر ته بابا پاچا صاحب ډوډۍ وکړه اوپس د ډوډۍ خوړو نه لښکرې خورې شوې بابا پاچا او سید عباس پاچا صاحبان شپې له ۱۲ میزان زمونږ ځاې ته په میلمستیا راغلل او په صباله وطن ته رخصت شو ۔

رشتیا خبره داده چه پاچا صاحبانو په دې غزا کې د مومندو سره ډیر کمک او مرسته پیدا سې حال کې وکړه چه د خومیاشتو جنګ لوړه د مومندو حوصله ماتیدو ته نژدې کړې وه او په خلکو ډیره وار خطائي راغلې وه ؛

او ریدلی شی چه د اسلام پور پاچا صاحبانو ته د حکومت
له پلوه په کنړ کې یو امر هم رسیدلی وو چه تاسي جنګ ته
مه ځئ خو پاچا صاحبانو ورته په خواب کې ویلی وو چه :
که مخکښې دا امر را رسیدلی وے او مونږه د کور نه وی وتلی
نو ضرور به مو مانه او اوس خو ډیره بې غیرتي ده او دا
اسلامی، بې غیرتي او بې عزتي نشم زغملی او حکومت چه هرڅه
کوی و دی کړی د خدا ے رضا به وی او مونږه اوس نشو
واپس کیدلی !!

د همدے وجه وه چه پاچا صاحبان د غزانه واپس لاړل
نو مشر پاچا صاحب بابا پاچا د افغانستان حکومت کابل ته
وغوښت او څو کاله په کابل کې نظربند پاتې شو او بیر بنګاک
کې تو سیدلو ـ

زه ئې څنګه د خپل غازی پلار سره لیدولے ورغلی وم
بابا پاچا لوړ د ننګ سړے وو ، ګیره به ئې خریله او لوی لوی
بریتونه ئې لرل ډیر آزاد او خوش طبعه سړے وو او سید عباس
پاچا صاحب صوفي طبیعته سړے وو او ګیره ئې لرله سید عباس
پاچا صاحب هم خوش څهره او میانه قد سړے وو ـ

دادواړه ورونه د اسلام پور د میر سید جان پاچا صاحب چه په شیخ پاچا مشهور وو او د حضرت صاحب نجم الدین اخندزاده ماذون او وصی وو - ځامن وو ؛

میر سید جان پاچا صاحب پخپله هم ډیر غازی شخص وو او ډیرې غزا گانی کړې وې او په ننگرهار او خوا و شا علاقی کی ډیر اعتبار او نفوذ او رسوخ درلود -

سنه ډوډی مارسړې وو - او لنگر به ئی چلاوه ،

پاچا صاحب اعلیحضرت امان الله خان بندی کړې او کابل ته بیولی وو خو په ۱۳۰۷ سنه کی چه په افغانستان کی بچه سقاو انقلاب جوړ کړو - نو اعلیحضرت امان الله خان پاچا صاحب د ننگرهار د امنیت دپاره په هوائی جاز کی جلال آباد ته راولیږه خو وخت تیر وو او د جلال آباد محاصره قومونو کړې وه او سنار وسو

غازی امان الله خان چه د وطن نه لاړو نو څو موده پس پاچا صاحب پخپل کور کی په ۱۳۰۷ ه ش کال پخپل مرگ وفات شو ؛

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

داوی د مومندو د غزاګانو هغه قصې چه د استعمار او استثمار سره ئې کړې دی او قربانۍ ورکړې دی چه په دې ټول جریان کې زه پخپله حاضر وم او سره برخه مې پکښې اخیستې وه او په لنډ دول دا پاس ولیکلې شوې او هم د غلته د د غزاګانو سلسله هم ختمه شوه او د ۱۹۴۷ کال پورې قراری وه ترڅو چه هند آزاد او ویش وشو ، او پاکستان جوړ شو او نوې ځینې مسئلې راپیدا شوې ،

او بل دور او د قومونو هم بل ډول او بل رنګ شو او د اسلامی جذبې په ځاے د نورو جذبو حرکت شروع شو ؛

دا نو بیل باب او بیلې جدا قصې دې چه که فرصت پلاس راغی نو دیو کتاب په ډول به ئې راغونډ او ولیکم که خدای کول او د رنو لوستونکو او علاقمندانو ته به ئې وړاندې کړم او اوس نو رلس کوم والسلام

دسه شنبې ورځ ۱۲ ثور ۱۳۵۴ کال

"سیال" مومند

( سیالکوټ آزاد مومند کوځ اخیل )